# رسمی جریده

د افغانستان د پادشاهی دولت رسمی خپرونه

پدې گڼه کښې

شماره‌ٔ فوق العاده به‌مناسبت
انتشار قانون اساسی
افغانستان

شنبه دمیزان (۱۱) ۱۳۴۳ هجری شمسی کال پرله پسی گڼه (۱۲)


# قانون اساسی افغانستان

فهرست


دیباچه

فصل اول — د ولت

فصل دوم — پادشاه

فصل سوم — حقوق و وظائف اساسی مردم

فصل چارم — شوری

فصل پنجم — لویه جرگه

فصل ششم — حکومت


فصل هفتم — قضاء

فصل هشتم — اداره

فصل نهم — حالت اضطرار

فصل دهم — تعدیل

فصل یازدهم — احکام انتقالی

د افغانستان د پاچا ابلاغ

موږ المتوکل علی الله محمد ظاهر شاه د افغانستان پاچا د افغانستان د نوي اساسي قانون مسوده چه د لویې جرگې له خوا تصویب شوې ده ... د ۱۳۴۳ ش کال ... د کابل ... غونډه ... د خدای په نامه توشیح وو ... د دولت په ټولو سیمو کې د افغانستان د اساسي قانون په حیث نافذ اعلانوو ... د افغانستان هغه اساسي قانون چه د ۱۳۰۹ ش کال د لویې جرگې له خوا تصویب شوی او تر ننه پورې په هیواد کې نافذ و د هغه د ټولو ضمیمو سره لغو شوی اعلانوو.

بحکم پادشاه افغانستان

ما محمد ظاهر شاه پادشاه افغانستان مسوده قانون اساسی جدید افغانستان را که از طرف لویه جرگه ... ماه سنبله سال ۱۳۴۳ هجری در شهر کابل انعقاد یافت تصویب گردیده بنام خداوند بزرگ توشیح میکنیم و از امروز آنرا بحیث قانون اساسی افغانستان بر تمام خاک دولت نافذ اعلام می‌نمائیم.

و از امروز قانون اساسی که از طرف لویه جرگه سال ۱۳۰۹ هجری تصویب گردیده و تاکنون نافذ بود با تمام ضمائم آن ملغی اعلام مینمائیم.

محمد ظاهر شاه
پادشاه افغانستان

Ketabton.com

بسم الله الرحمن الرحیم

## خدای په نامه

...م دملی ثقافت او تاریخ دپیښنیو

...ه سنیت دپاره .

...ه کولودپاره .

...ماعی دیموکراسی دتطبیق دپاره ،

...سائی اوعمومی نظم د ساتنې

...کانو دسمیت دپاره .

## بنام خداوند توانا و دادگر

بمنظور تنظیم حیات ملی افغانستان مطابق به مقتضیات عصر و براساس واقعیات تاریخ وفرهنگ ملی .

بمنظور تأمین عدالت ومساوات .

بمنظور تطبیق دیموکراسی سیاسی ـ اقتصادی واجتماعی .

بمنظور تنظیم شئون وارکان دولت برای تأمین آزادی ورفاه

(c) ketabton.com: The Digital Library



### لومړی فصل

## دولت

**لمړۍ ماده-** افغانستان یو مشروطه باچائی، خپلواك، یوموټی او نه بیلیدونکی دولت دی. ملی حاکمیت په افغانستان کښی په ملت پورې تعلق لری.

دافغانستان ملت ټول هغه افراد دی چه د قانون له حکمه سره سم دافغانستان د دولت تابعیت لری. ددې افرادو په هریو فرد باندې دافغان د کلمې اطلاق کیږي.

**دوهمه ماده-** دافغانستان دین داسلام سپیڅلی دین دی.

دینی شعایر د دولت له خوا د حنفی مذهب د حکمونو سره سم پرځای کیږی.

دملت هغه کسان چه مسلمانان نه دی په هغو حدودو کښی د ننه چه دچال چلند او عامی هوساینی په باب قوانین ئی ښیئی آزاد دی چه خپل مذهبی مراسم په ځای کړی.

**دریمه ماده-** دافغانستان دژبو له جملې څخه پښتو او دری رسمی ژبی دی.

**څلورمه ماده-** دافغانستان بیرغ له دریو ټوټو جوړ دی چه رنګونه ئی تور، سور او شین دی او یو هومره ولاړې څنګ په څنګ دکیڼی خوانه په ښی اوړې تللی دي.

دهر رنګ ساره ئی داوږدود نیمائی هومره دی. په مینځ کښی یی په سپین رنګ دمحراب او منبر نشان لګیدلی دی چه دواړو خواوته ئی دوه بیرغونه ولاړ دی او له دواړو غاړو ئی دغنمو دوه وږي چاپیر دي.

**پنځمه ماده-** دافغانستان پایتخت د کابل ښار دی.

### دوهم فصل

## باچا

**شپږمه ماده-** په افغانستان کښی باچا د ملی حاکمیت ښکارندوی دی.

**اوومه ماده-** باچا داسلام دسپیڅلی دین داساسونو ساتنوال، دافغانستان دخپلواکۍ او دسیمې دتمامیت ساتونکی، داساسی قانون ساتندوی او دملی یووالی مرکز دی.

**اتمه ماده-** باچا باید دافغانستان له اتباعو، مسلمان او په حنفی مذهب وی.

**نهمه ماده-** دباچا وظیفی او حقونه دادی:

۱- دافغانستان داردو لویه مشری.
۲- دجنګ او اوربند اعلان.
۳- دلویی جرګی دائرول او پرانستل.
۴- دشوری دعادی غونډې پرانستل.
۵- دشوری دفوق العاده غونډې دائرول او پرانستل.
۶- دشوری رنګول او دنوو انتخاباتو دفرمان ویستل نوي انتخابات دشوری د انحلال دتاریخ نه په درې میاشتو کښی دننه سرته رسیږی.

### فصل اول

## دولت

**مادۀ اول-** افغانستان دولت پادشاهی مشروطه، مستقل واحد وغیر قابل تجزیه است.

حاکمیت ملی درافغانستان به ملت تعلق دارد.

ملت افغانستان عبارت است از تمام افرادیکه تابعیت دولت افغانستان را مطابق به احکام قانون دارا باشند.

برهرفرد ازافراد مذکور کلمۀ افغان اطلاق میشود.

**مادۀ دوم-** دین افغانستان دین مقدس اسلام است. شعایر دینی از طرف دولت مطابق به احکام مذهب حنفی اجراء میگردد.

آن افراد ملت که پیرو دین اسلام نیستند در اجرای مراسم مذهبی خود درداخل حدودیکه قوانین مربوط به آداب وآسایش عامه تعیین میکند، آزاد میباشند.

**مادۀ سوم-** ازجملۀ زبان های افغانستان پښتو ودری زبان های رسمی میباشد.

**مادۀ چارم-** بیرق افغانستان مرکب است ازسه قطعه برنگهای سیاه، سرخ وسبز که بصورت عمودی باندازه‌های مساوی ازچپ به راست درکنار هم واقع شده. عرض مقدار هررنگ معادل نصف طول آنست. دروسط نشان محراب ومنبر برنگ سفید جادارد که دردوگوشۀ آن دو بیرق نصب وازدوطرف به دوخوشه‌گندم احاطه شده است.

**مادۀ پنجم-** پایتخت افغانستان شهر کابل است.

### فصل دوم

## پادشاه

**ماده ششم-** درافغانستان پادشاه حاکمیت ملی را تمثیل میکند.

**ماده هفتم-** پادشاه حامی اساسات دین مقدس اسلام، حافظ استقلال وتمامیت ساحه، نگهبان قانون اساسی ومرکز وحدت ملی افغانستان میباشد.

**ماده هشتم-** پادشاه باید ازتبعه افغانستان، مسلمان وپیرو مذهب حنفی باشد.

**ماده نهم-** پادشاه دارای حقوق ووظایف آتی میباشد:

۱- قیادت اعلای اردوی افغانستان.
۲- اعلان حرب ومتارکه.
۳- دایرکردن وافتتاح لویه جرگه.
۴- افتتاح اجلاس عادی شوری.
۵- دایرنمودن وافتتاح اجلاس فوق العاده شوری.
۶- منحل ساختن شوری واصدار فرمان انتخابات مجدد. انتخابات مجدد درخلال مدت سه ماه ازتاریخ انحلال شوری انجام مییابد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷- دقوانینو ښکو لل اودهغو دجاری کولو اعلام .

۸- دتقنینی فرمانونو ویستل .

۹- دقانون دحکمونوسره سم دبین الدول معاهدو دتړون دپاره اتبا رلیك ورکول .

۱۰- د بین الدول معاهد وښکو لل .

۱۱- دصدراعظم ټاکل . دهغه استعفاء منل . دصدراعظم په پیشنهاد دوزیرانو ټاکل اود وزیرانو استعفاء منل .

۱۲- دمشرانوجرگی د غیرانتخابی غړوټاکل اوددغی جرگی دغړوله منځ نه درئیس ټاکل .

۱۳- دقاضی القضات اوسترې محکمی دغړوټاکل.

۱٤- دقانون دحکمونوسره سم د قاضیانو اوعالیرتبه مامورینو او منصبدارانو ټاکل اومتقاعد کول .

۱۵- په بهرنوملکونو کښی دافغانستان دسیاسی نمایندگیو د مشرانو ټاکل. په بین المللی موسسو کښی دافغانستان ددائمی نمایندگانو ټاکل او د بهرنوملکونو دسیاسی نمایندگانو باورلیك منل.

۱٦- داضطرار دحالت اعلامول اوختمول .

۱۷- دجزاء کمول اوبښل.

**لسمه ماده** - سیکه دباچا په نامه وهله کیږي .

**یوولسمه ماده** - په خطبو کښی دباچا نوم اخستل کیږی .

**دوولسمه ماده** - نښان دقانون دحکمونوسره سم دباچا له خوا ورکول کیږی . دنښان په ورکړه پوری هیڅ قسم مادی ښیگڼه تړلی نه وی.

**دیارلسمه ماده** - دباچائی دربار لگښت دباچائی لگښتونو دقانون سره سم د دولت په بودجه کښی ټاکل کیږي .

**څوارلسمه ماده** - په دی فصل کښی چه څومره صلاحیتو نه راغلی دی له هغو نه په هغوحدودو کښی دننه استفاده کیږی چه ددی اساسی قانون حکمونو ښودلی دی .

**پنځلسمه ماده** - باچا نه پوښتیدونی دی او لمانځنه ئی واجب ده او دی دباچائی کورنی او دحکومت اوستری محکمی دغړو په مخکښی دشوری ددواړو جرگو دمشترکی غونډی په وړاندی داسی لوړه کوی :

بسم الله الرحمن الرحیم

دلوی خدای په نامه لوړه کوم چه په خپلو ټولو چارو کښی به خدای جل جلاله حاضر گڼم . داسلام دسپیڅلی دین داساسو نوساتنه او داساسی قانون حمایت به کوم . دهیواد د خپلواکی او دسیمی تمامیت ، ددولت قوانینو او دخلکو حقونه به ساتم او دلوی خدای له دربار ه د مرستی په غوښتو به دافغانستان د اساسی قانون دحکمونوسره سم باچاهی کوم او خپل ټول کوښښ به دافغانستان دملت دلوړتیا او سوکالی په لاره کښی په کار اچوم .

۷- توشیح قوانین واعلام انفاذ آن .

۸- اصدار فرامین تقنینی .

۹- اعطای اعتبارنامه بغرض عقد معاهدات بین الدول مطابق به احکام قانون .

۱۰- توشیح معاهدات بین الدول .

۱۱- تعیین صدراعظم وقبول استعفای او- تعیین وزراء به پیشنهاد صدر اعظم وقبول استعفای آنها .

۱۲- تعیین اعضای غیرانتخابی مشرانوجرگه و تعیین رئیس جرگهٔ مذکور از جملهء اعضای آن .

۱۳- تعیین قاضی القضات واعضای ستره محکمه .

۱٤- تعیین وتقاعد قضات وتعیین وتقاعد مامورین و صاحبمنصبان عالی رتبه مطابق به احکام قانون .

۱۵- تعیین سران نمایندگی های سیاسی افغانستان نزد دول خارجی . تعیین نمایندگان دایمی افغانستان نزد موسسات بین المللی وقبول اعتماد نامه های نمایندگان سیاسی خارجی .

۱٦- اعلام حالت اضطرار وخاتمه دادن به آن.

۱۷- تخفیف وعفو مجازات.

**ماده دهم** - سکه بنام پادشاه ضرب میشود.

**ماده یازدهم** - درخطبه ها نام پادشاه ذکر میگردد .

**ماده دوازدهم** - نشان ازطرف پادشاه مطابق به احکام قانون اعطاء میشود.

اعطای نشان متضمن هیچ نوع امتیاز مادی نمیباشد.

**ماده سیزدهم** - مصارف پادشاهی دربودجه دولت مطابق به قانون مصارف پادشاهی تعیین میگردد.

**ماده چاردهم** - استفاده ازصلاحیت های مندرج این فصل درداخل حدودی صورت میگیرد که احکام این قانون اساسی تعیین نموده است .

**ماده پانزدهم** - پادشاه غیر مسئول و واجب الاحترام است و باحضور اعضای خانواده پادشاهی ، حکومت واعضای ستره محکمه دربرابر جلسه مشترك هردوجرگه شوری حلف آتی را بجامی آورد :

بسم الله الرحمن الرحیم

بنام خدای عظیم سوگند یاد میکنم که در کافه اعمال خود خداوند جل جلاله را حاضر دانسته ، اساسات دین مقدس اسلام را حمایت ، قانون اساسی را احترام ، استقلال وطن ، تمامیت ساحه ، قوانین دولت و حقوق مردم را حفاظت کنم . وبا استعانت از بارگاه پروردگار برطبق احکام قانون اساسی افغانستان پادشاهی نمایم ومساعی خودرا درراه سعادت وترقی ملت افغانستان بکار برم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شپاړسمه ماده** ـ دافغانستان باچائی ددې اساسی قانون دحکمونو سره سم د اعلیحضرت محمد نادرشاه شهید په کورنۍ کښې له یو نه بل ته پاتی کیږي .

**اوولسمه ماده** ـ که چیری باچا داستعفاء تکل او کاندی نو دولسی جرگی له مشر ، دمشرانو جرگی له مشر ، صدراعظم ، قاضی القضات او باچائی دربار له وزیر نه جوړ مجلس ته خبر ورکوی بیا په اوو ورځو کښې دننه دننه لویه جرگه دائروی او خپله استعفاء پخپله یا ددربار دوزیر په لاس جرگی ته وړاندې کوی . که لویه جرگه تصدیق وکړي چه باچا په خپله خوښه استعفاء کړی ده نو ددغی جرگی د تصدیق له تاریخ نه دباچا استعفاء نافذه گڼل کیږی .

**اتلسمه ماده** ـ دباچا داستعفاء یا مړینی په وخت کښې باچائی دهغه مشر ځوی ته پاتی کیږی .

که چیرې د باچا په مشر ځوی کښې هغه شرطونه پوره نه ووچه په دې اساسی قانون کښې ښودل شوی دی نو بیا باچائی دهغه دوهم ځوی او همداسی ورپسی نورو ځامنو ته پاتی کیږی .

**نولسمه ماده** ـ که چیرې پاچا مړیا استعفاء وکړی او دپاچائی په شرطونو برابر ځوی و نه لری نو پاچائی دپاچا په ورو ښو کښې ترټولو مشر ورور ته پاتی کیږی .

که چیرې دپاچا په مشر ورور کښې د پاچائی شرطونه پوره نه وی نوده ته چه کوم یو ورور دعمر په لحاظ زیات نژدې وی پاچائی هغه ته پاتی کیږی او همدغسی تر اخره درومی .

که چیری باچا دپاچا بی په شرطونو برابر یو ورور هم و نه لری نو په ځای ناست به ئی د اعلیحضرت محمد نادرشاه شهید د نارینه اولاد له ټبره غوره کیږي . په داسی حالت کښې د پاچا انتخاب د لویې جرگی ، دسترې محکمی له غړو او د حکومت نه دیو جوړ شوي مجلس له خوا کیږی .

که باچا مړ وونو دا مجلس به دمړینی دورځی له تاریخه په پنځلسو ورځو کښې دننه او که استعفائی کړې وه نود نافذ کیدو د تاریخ نه پس په اوو ورځو کښې دننه د صدراعظم له خوا جوړیږی .

په دې مجلس کښې فیصله دحاضر وغړو درایو په اکثریت کیږی او فیصله دهغه چا له منښت نه پس چه دپاچا په حیث غوره شوی دی نافذه گڼل کیږی .

دپاچا دمړینی یا داستعفاء دنافذ کیدو له نیټی نه د هغه دجانشین تر غوره کیدو پورې ددربار وزیر دپاچا نائب گڼل کیږي .

**شلمه ماده** ـ کله چه پاچا دهیواد نه دباندې دسفر تکل وکړی نو یو یا څو کسه دخپل وکیل په توگه ټاکی .

دغه کس یا کسان دپاچا په غیاب کښې دهغه واك اختیار په حدودو کښې دننه چه پاچا ورته ورکړې پاچائی چارې ددې اساسی قانون دحکمونو سره سمی دپاچا په وکالت پر ځای کوی .

**ماده شانزدهم** ـ پادشاهی افغانستان در خانوادهٔ اعلیحضرت محمدنادرشاه شهید برحسب احکام این قانون اساسی انتقال مینماید .

**ماده هفدهم** ـ هرگاه پادشاه اراده استعفاء بنماید به مجلس مرکب از رئیس اولسی جرگه ، رئیس مشرانو جرگه ، صدراعظم قاضی القضات و وزیر دربار پادشاهی اطلاع داده بعد در خلال مدت هفت روز لویه جرگه را دائر میکند و استعفای خود را شخصاً یا توسط وزیر دربار به جرگه مذکور ابلاغ مینماید . درصورتیکه لویه جرگه تصدیق نماید که استعفاء از اراده پادشاه نشأت نموده از تاریخ تصدیق آن استعفای پادشاه نافذ شمرده میشود .

**ماده هژدهم** ـ درموقع استعفأ یا وفات پادشاه ـ پادشاهی به پسر بزرگش انتقال مییابد .

درصورتیکه پسر بزرگ پادشاه واجد شرایط پادشاهی که در این قانون اساسی ذکر گردیده نباشد پادشاهی به پسر دوم او و همچنان الی آخر انتقال میکند .

**ماده نزدهم** ـ هرگاه پادشاه وفات کند یا استعفاء نماید و پسری نداشته باشد که واجد شرایط پادشاهی باشد ، پادشاهی به بزرگترین برادر پادشاه انتقال مینماید . درصورتیکه بزرگترین برادر پادشاه واجد شرایط نباشد پادشاهی به برادر یکه از نظر سن میان برادران بلافاصله بعد از و واقع باشد و همچنان الی اخر انتقال می یابد .

درصورتیکه پادشاه برادري نداشته باشد که واجد شرایط پادشاهی باشد جانشین پادشاه ازجمله بازماندگان پسری اعلیحضرت محمد نادرشاه شهید انتخاب میگردد . درین حالت انتخاب پادشاه توسط مجلسی مرکب از لویه جرگه ، حکومت و اعضای ستره محکمه صورت میگیرد . این مجلس درصورت وفات درخلال مدت پانزده روز از تاریخ وفات و درصورت استعفاء درخلال مدت هفت روز از تاریخ نفاذ آن از طرف صدراعظم دائر میشود . تصمیم این مجلس به اکثریت ارای اعضاي حاضر اتخاذ میگردد و بعد از موافقت شخص که بحیث پادشاه انتخاب شده نافذ شمرده میشود .

از تاریخ وفات پادشاه یا نفاذ استعفای او تا انتخاب جانشین پادشاه ، وزیر دربار نائب پادشاه شناخته میشود .

**ماده بیستم** ـ هنگامیکه پادشاه اراده سفر بخارج مملکت بنماید یك یا چند نفر را بحیث وکیل خود تعیین میکند . شخص یا اشخاص مذکور درغیاب پادشاه بوکالت از او امور پادشاهی را در حدود صلاحتیی که از طرف پادشاه به او داده میشود برطبق احکام این قانون اساسی اجرا مینماید .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه کسان دوکیل په توگه نه شي ټاکل کیدی :

۱-صدراعظم.

۲-داولسی جرگی مشر.

۳-دمشرانو جرگی مشر.

٤-قاضی القضات .

**یوویشتمه ماده** -کله چه باچا مړشي او دهغه په ځای ناست لا دخپل عمر شل کاله پوره کړی نه وی نو ترخو پوري چه دغه عمر ته رسیږی ملکه دباچائی چارو نیابت په غاړه اخلی . که چیري ملکه نه وی نو هغه مجلس چه په نولسمه ماده کښی یادشوې دی داعلیحضرت محمد نادرشاه شهید دنارینه اولاد له ټبره یو کس د پاچا دنائب په توگه غوره کوی.

**دوه ویشتمه ماده**- کله چه باچا استعفاء وکړی او دهغه پرځای ناست دخپل عمر شل کاله نه وی پوره کړی نو ترخو پوری چه دی دغه عمر ته رسیږی هغه مجلس چه په نولسمه ماده کښی یادشوی دی داعلیحضرت محمد نادرشاه شهید دنارینه اولاد له ټبره یو کس دباچا دنائب په توگه غوره کوی.

**دریویشتمه ماده**- دباچا نائب او وکیل باید هغه شرطونه ولری چه په اتمه ماده کښی راغلی دی.

د باچا نائب باچائی چاری ددې اساسی قانون د حکمونو سره سمی پرځای کوی.

که دباچا نیابت دملکی په غاړه وی ملکه دهغه صلاحیت نه چه دنهمی مادې په دوهمه فقره کښی یادشوی دی دحکومت په مشوره استفاده کوی.

د باچا نائب چه څو پوری دا عهده په غاړه اری په بل شغل باندې بوختیدلی نه شی .

هغه څوك چه ددی اساسی قانون دیوویشتمی او دوه ویشتمی مادی دحکمونو له مخه دباچا دنائب په توگه ټاکل کیږي هیڅکله دافغانستان دباچا په توگه انتخابیدلی نه شی .

دباچائی دنیابت په دوره کښی ددې اساسی قانون دباچا دفصل هغه مادی چه پرځای ناست پوری تعلق لری تعدیل کیدلی نه شی .

**څلیرویشتمه ماده**- دباچا ځوی ، لور ، ورور ، خور او ددوی ښځی او مېړونه او ځامن او لونې او دباچا تره او دتره ځامن باچائی کورنی ده ددولت په رسمی تشریفاتو کښی باچائی کورنی په باچا او ملکه پسی جوخت ځای نیسی .

دباچائی کورنی لگښت دباچائی لگښتونو په بودجه کښی ټاکل کیږی

لقبونه یوازې دباچائی کورنی دپاره دی او دقانون دحکمونو سره سم ټاکل کیږی.

دباچائی کورنی غړی په سیاسی گوندونو کښی گډون نه کوی او دغه وظیفی په غاړه نه اخلی :

۱-صدارت عظمی او وزارت.

۲-دشوری غړیتوب .

۳-دستری محکمی غړیتوب.

اشخاص ذیل بحیث وکیل تعیین نمیشوند :

۱- صدراعظم.

۲-رئیس اولسی جرگه.

۳- رئیس مشرانوجرگه.

٤- قاضی القضات .

**ماده بیست ویکم**— هرگاه پادشاه وفات کند وجانشین او سن بیست را تکمیل نکرده باشد تا موقعیکه سن مذکور را تکمیل میکند ملکه نیابت پادشاه را به عهده میگیرد. درصورتیکه ملکه وجود نداشته باشد مجلسیکه درماده (نزدهم) ذکر گردید شخصی را از جمله بازماندگان پسری اعلیحضرت محمد نادرشاه شهید بحیث نائب پادشاه انتخاب میکنند .

**ماده بیست ودوم** — هرگاه پادشاه استعفاء نماید وجانشین او سن بیست را تکمل نکرد باشد تا موقعیکه سن مذکوررا تکمیل میکند مجلسیکه درماده ء نزدهم ذکر گردیده شخصی را از جمله بازماندگان پسری اعلیحضرت محمد نادرشاه شهید بحیث پادشاه انتخاب مینماید.

**ماده بیست وسوم** — نائب ووکیل پادشاه باید واجد شرایط مندرج ماده هشتم باشد.

نائب پادشاه امور پادشاهی را برطبق احکام این قانون اساسی اجرامیکند.

در صورتیکه ملکه نیابت پادشاه را بعهده داشته باشد از صلاحیت مندرج فقره دوم ماده نهم به مشوره حکومت استفاده میکند.

نائب پادشاه نمیتواند درمدت تصدی این عهده به مشاغل دیگر اشتغال ورزد.

شخصیکه برحسب احکام مواد بیست ویکم وبیست ودوم این قانون اساسی به صفت نائب پادشاه تعیین میگردد هیچگاه بحیث پادشاه افغانستان انتخاب نمیشود.

دردوره نیابت پادشاهی موادمربوط به جانشین فصل پادشاه این قانون اساسی تعدیل نمیشود.

**ماده بیست وچارم**- پسرودختر و برادر وخواهر پادشاه وازواج وزوجات وابناء وبنات شان وعم وابنای عم پادشاه خانواده پادشاهی را تشکیل میدهند.

در تشریفات رسمی دولت خانواده پادشاهی بعد از پادشاه وملکه اخذ موقع مینماید.

مصارف خانواده پادشاهی در بودجه مصارف پادشاهی تعیین میشود.

القاب مختص به خانواده پادشاهی میباشد ومطابق به احکام قانون تعیین میگردد.

اعضای خانواده پادشاهی در احزاب سیاسی شمولیت نمیورزند ووظایف آتی را احراز نمیکنند :

۱-صدارت عظمی ووزارت.

۲-عضویت شوری.

۳-عضویت ستره محکمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د باچاهي كورنۍ غړي خپل حيثيت د باچاهي كورنۍ د غړي په صفت ترڅو چه ژوندي وي ساتي .

دريم فصل

# د خلكو اساسي حقونه

## او وظيفې

**پنځه ويشتمه ماده** – د افغانستان ټول خلك بې له هيڅ قسم تبعيض او امتيازه د قانون په وړاندې يوشان حقونه او وظيفې لري .

**شپږ ويشتمه ماده** – آزادي د انسان خداى وركړى حق دى . دا حق بې د نورو له آزادۍ او عمومي ښېگڼو نه چه قانون ښودلي دي نورې پولې نه لري .

د انسان آزادي او كرامت د بلوسي نه په امن دي او بيلتون نه قبلوي .

هيڅ كړه جرم نه گڼل كيږي مگر هله چه د يو داسي قانون په موجب جرم وبلل شي چه د دغې كار له كولو نه مخكښې نافذ شوى وي .

هيچا ته سزا نه شي وركول كيدى مگر هله چه يوې واكمنې محكمې پرې د ښكاره او حضوري محاكمې نه پس حكم صادر كړى وي .

هيچا ته جزا نه شي وركول كيدى مگر د هغه قانون د حكمه سره سم چه د دغه تهمتي كار له كولو نه رومبى نافذ شوى وي .

هيڅوك بې د قانون له حكمه تعقيب كيدلى يا نيول كيدلى نه شي

هيڅوك توقيف كيدلى نه شي مگر د واكمنې محكمې د حكم او د قانون د حكمو نو سره سم .

د غاړې خلاصون اصلي حالت دى – څو پورې چه تورن د محكمې له خوا په قطعي پريكړه محكوم عليه نه شي بيگناه گڼل كيږي .

جرم د هرچا خپل ځانى شى دى د تورن تعقيب – نيول – توقيف او سزا وركول بل هيچا ته نه ور ځيږي .

د انسان كړول جواز نه لري . هيڅوك نشي كولى چه حتى له چا نه د حقايقو د څرگندولو په غرض هم هغه وكړوي او يا يې د كړولو امر وركړي كه څه هم دغه سړى د تعقيب لاندې وي يا نيول شوى يا توقيف شوى يا پرې د سزا حكم ختلى وي .

له انساني كرامت نه مخالفه سزا ټاكل جواز نلري .

هغه اظهار چه له تورن يا بل سړي نه په اكراه واخستې شي اعتبار نه لري .

په جرم باندې اقرار كول هغه اعتراف ته وائي چه تورن ئې په روغ عقل او په خپله خوښه د هغه جرم په كولو باندې چه د قانون له مخه په ده پورې تړل شوى دى د يوې واكمنې محكمې په وړاندې وكړي .

هرڅوك حق لري چه د هغه تور د لرې كولو په غرض چه د قانون له مخه پرې تړل شوى وي د ځان د دفاع د پاره وكيل ونيسي .

د يو چا پوروړى كيدل د پوروړي د آزادۍ د سلبيدو يا كميدو سبب كيدى نه شي .

د پور ويستلو لارې چارې د قانون له خوا ښودل كيږي .

هر افغان حق لري چه د خپل دولت د سيمې هرځاى ته لاړ شي او هلته استوگنه غوره كړي مگر بې له هغو ځايو څخه چه قانون منع كړي وي . همدارنگه هر افغان حق لري د قانون د حكمو نو سره سم

اعضای خانوادهٔ پادشاهی حیثیت خود را بصفت عضو خانوادهٔ پادشاهی مادام الحیات حفظ میکنند.

فصل سوم

# حقوق و وظائف اساسی مردم

**ماده بیست و پنجم** تمام مردم افغانستان بدون تبعیض و امتیاز در برابر قانون حقوق و وظائف مساوی دارند.

**ماده بیست و ششم** آزادی حق طبیعی انسان است. این حق جز آزادی دیگران و منافع عامه که توسط قانون تنظیم میگردد حدودی ندارد .

آزادی و کرامت انسان از تعرض مصون است و انفکاک نمی پذیرد. دولت به احترام و حمایت آزادی و کرامت انسان مکلف میباشد.

هیچ عملی جرم شمرده نمیشود مگر به موجب قانونیکه قبل از ارتکاب آن نافذ گردیده باشد.

هیچکس را نمیتوان مجازات نمود مگر بر طبق حکم محکمه باصلاحیت که بعد از محاکمه علنی و حضوری صادر گردیده باشد .

هیچکس را نمیتوان مجازات نمود مگر مطابق به احکام قانونیکه قبل از ارتکاب فعل مورد اتهام نافذ گردیده باشد.

هیچکس را نمیتوان تعقیب یا گرفتار نمود مگر بر طبق احکام قانون.

هیچکس را نمیتوان توقیف نمود مگر بر طبق حکم محکمه باصلاحیت و مطابق به احکام قانون.

برائت ذمهٔ حالت اصلی است. متهم تا وقتیکه به حکم قطعی محکمه محکوم علیه قرار نگیرد بیگناه شناخته میشود.

جرم یک امر شخصی است. تعقیب، گرفتاری یا توقیف متهم و تطبیق جزاء براو به شخص دیگری سرایت نمیکند.

تعذیب انسان جواز ندارد. هیچکس نمیتواند حتی به مقصد کشف حقایق از شخص دیگر، اگرچه آن شخص تحت تعقیب، گرفتاری یا توقیف و یا محکوم به جزاء باشد به تعذیب او اقدام کند یا امر دهد.

تعیین جزائیکه مخالف کرامت انسانی باشد جواز ندارد .

اظهاریکه از متهم یا شخص دیگر بوسیله اکراه بدست آورده شود اعتبار ندارد.

اقرار بجرم عبارتست از اعترافی که متهم برضای کامل در حالت صحت عقل به ارتکاب جرمیکه قانوناً باو نسبت داده شده در حضور محکمه باصلاحیت مینماید.

هرشخص حق دارد برای دفع اتهامی که قانوناً باو متوجه شده وکیل مدافع تعیین کند.

مدیون بودن یک شخص در برابر شخص دیگر موجب سلب یا محدود شدن آزادی مدیون شده نمیتواند . طرز و وسائل تحصیل دین توسط قانون تنظیم میگردد .

هر افغان حق دارد در هر نقطهٔ از ساحهٔ دولت خود سفر نماید و مسکن اختیار کند مگر در مناطقیکه قانون ممنوع قرار داده است. همچنین هر افغان حق دارد مطابق به احکام قانون

(c) ketabton.com: The Digital Library



دافغانستان نه دباندې سفر وکړي او بيرته افغانستان ته راشي .

هيڅ افغان په افغانستان کښې دننه او د افغانستان نه د باندې په شړلو محکوم ولي نه شي .

**اووه ويشتمه ماده ـ** هيڅ افغان ديو جرم په تور بهرني دولت ته سپارل کيداي نه شي .

**اته ويشتمه ماده ـ** دهرچا تپا توبي د بلوسي نه په امن دي ـ هيڅوك حتى دولت هم دا وسيدونکي دا جازې يادیوې واکمنې محکمې له حکمه پرته او بې ذ هغو حالاتو او لارو چارو نه چه په قانون کښې څرګندې شوي دي دچا تپا توبي ته ننو تلی او هغه لټولی نه شي .

دڅرګند جرم په وخت کښې مسئول مامور ديو چا تپا توبي ته بې د هغه يا د محکمې له مخکني اجازې څخه پخپل مسئوليت ننوتی شي او هغه لټولی شي خو دغه مامور په دې مکلف دي چه دورننوتلو يا لټولو نه پس دقانون دخوا په ښودلي موده کښې د ننه د محکمې فيصله لاس ته راوړي .

**نه ويشتمه ماده ـ** ملکيت د بلوسي نه په امن دې .

دهيچا ملکيت دقانون دحکم او ديوې واکمنې محکمې دفيصلې نه پرته مصادره کيدې نه شي .

ديو چا دملکيت استملاك يوازې دعمومي ښيګړو دپاره د عادلانه پيشکې په بدل کښې دقانون دحکمونو سره سم جواز لري .

هيڅوك بې له قانون نه دملکيت له اخيستو او تصرف څخه منع کيداي نشي . دملکيت داستعمال لاره دعامو ښيګڼو د تامين لپاره دقانون له پلوه تنظيم او ښودل کيږي .

دځاني شتمنۍ پلټنه او د هغې اعلان يوازې دقانون په حکم کيداي شي .

د باندنيو د ولتونه او اتباع په افغانستان کښې دعقاري مالونو دملکيت حق نه لري . دبهرنو ملکونو په سياسي نمايندګيو باندې د بالمثل چال چلند په اساس او په هغو بين المللي موء سسو باندې چه افغانستان يې غړيتوب لري دحکومت په خوښه عقاري مالونه پلورل کيداي شي .

**ديرشمه ماده ـ** د هرچا دمخابرې ازادي او پټوالی که په ليك وي که په تيليګراف که په تيلفون او که په بله وسيله وي د بلوسي نه په امن دي .

دولت د چا د مخابرې دلټون حق نلري مګر ديوې واکمنې محکمې د فيصلې او دقانون دحکمونو سره سم .

په سملاسي حالاتو کښې چه قانون ښودلي دي مسئول مامور بې له دې چه رومبي دمحکمې نه اجازه واخلي په خپل مسئوليت کولی شي چه مخابرې ولټوي . دغه مامور په دې مکلف دي چه د پلټنې څخه وروسته په هغه موده کښې چه قانون ښودلې ده د محکمې فيصله حاصله کاندي .

**يوديرشمه ماده ـ** دفکر او بيان ازادي دبلوسي نه په امن ده .

هر افغان حق لري چه دقانون دحکمونو سره سم په وينا ليکنه ، تصوير او يا داسي نورو وسيلو خپل فکر څرګند کړي .

هر افغان حق لري چه مطالب دقانون د حکمونه سره سم بې

بخارج افغانستان سفر نمايد و به آن عودت کند .

هيچ افغان به تبعيد در داخل افغانستان وخارج از افغانستان محکوم نميشود .

**ماده بيست و هفتم ـ** هيچ افغان به علت اتهام به يك جرم به دولت خارجي سپرده نميشود .

**ماده بيست و هشتم ـ** مسكن شخص از تعرض مصون است . هيچکس به شمول دولت نميتواند بدون اجازه ساکن يا حکم محکمه باصلاحيت و بغير از حالات و طرزيکه در قانون تصريح شده به مسکن کسي داخل شود يا انرا تفتيش نمايد .

در موارد جرم مشهود مامور مسئول ميتواند به مسکن شخص بدون اجازه او يا اجازهٔ قبلي محکمه به مسئوليت خود داخل شود يا انرا تفتيش کند . مامور مذکور مکلف است بعد از دخول يا اجراي تفتيش درخلال مدتيکه قانون تعيين ميکند فيصلهٔ محکمه را حاصل نمايد .

**ماده بيست و نهم ـ** ملکيت از تعرض مصون است .

ملکيت هيچ شخص بدون حکم قانون وفيصلهء محکمه با صلاحيت مصادره نميشود .

استملاك ملکيت شخص تنها به مقصد تاءمين منافع عامه ، در بدل تعويض قبلي و عادلانه بموجب احکام قانون مجاز ميباشد .

هيچکس از کسب ملکيت و تصرف دران منع نميشود مگر در حدود قانون . طرز استعمال ملکيت بمنظور تاءمين منافع عامه توسط قانون تنظيم ورهنموني ميشود .

تفتيش و اعلان دارائي شخص تنها بحکم قانون صورت ميگرد .

دول و اتباع خارجي در افغانستان حق ملکيت اموال عقاري ندارند . فروش عقار به نمايندگي هاي سياسي دول خارجي براساس رويه بالمثل و به موسسات بين المللي ايکه دولت افغانستان عضو آن باشد بعد ازموافقهٔ حکومت مجاز ميباشد .

**ماده سيم ـ** ازادي ومحرميت مخابرات اشخاص چه بصورت مکتوب باشد وچه بوسيلهٔ تلفون و تلگراف و يا وسائل ديگر از تعرض مصون است .

دولت حق تفتيش مخابرات اشخاص را ندارد مگر به موجب فيصلهء محکمهٔ باصلاحيت و مطابق به احکام قانون .

در حالات عاجل ـ که در قانون تعريف ميگردد مامور مسئول ميتواند بدون اجازهٔ قبلي محکمه بمسئوليت خود به تفتيش مخابرات اقدام کند . مامور مذکور مکلف است بعد از اجراي تفتيش در خلال مدتيکه قانون تعيين ميکند فيصلهٔ محکمه را حاصل نمايد .

**ماده سي ويکم ـ** آزادي فکر و بيان از تعرض مصون است .

هر افغان حق دارد فکر خود را بوسيله گفتار ، نوشته ، تصوير يا امثال آن مطابق با احکام قانون اظهار کند .

هر افغان حق دارد مطابق با احکام قانون به طبع و نشر مطالب

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې چه لومړی ئی دولتی مقامونو ته وښيئ چاپ او نشر کاندې.

دعمومی چاپخانو د تاسیس او د مطبوعاتو خپرولو اجازه او امتیاز د قانون د حکمونو سره سم يوازې د افغانستان اتباعو او دولت ته ورکول کیږي.

د رادیو او تیلویژن ، د عامو خپرونکو کارځيو تاسیس او چلول یوازې په دولت پورې اړه لري.

**دوه دیرشمه ماده**— دافغانستان اتباع حق لري چه د روا اوسوله ناکو مقصدونو د پوره کولو د پاره د قانون د حکمونو سره سم د دولت د مخکنی اجازې نه پرته بې وسلې تولنه وکاندې.

دافغانستان اتباع حق لري چه د مادې یا معنوی مقصدونو د پوره کولو د پاره د قانون د حکمونو سره سم تولنې جوړې کړې.

دافغانستان اتباع حق لري چه د قانون په حکمونو برابر سیاسی گوندونه جوړ کړي خو په دې شرط چه :

۱/ د گوند هدف ـ فعالیت او هغه مفکورې چه د گوندونو تشکیلات پرې بناء شوی وې د دې اساسی قانون له ارزښتونو سره تناقض و نه لري.

۲ / د گوند تشکیلات او مالی درکونه په ډاګه وې.

هغه گوند چه د قانون په حکم برابر جوړ شوې وې د قانونی موجبا تو او ستري محکمی له حکمه پرته ړنگیدی نه شی.

**درې دیرشمه ماده**— هرچا ته چه اداري له پلوه بی موجبه تاوان واوړې د تاوان د اخیستلو حق لري او کولی شی چه د تاوان اخیستو د پاره په محکمه کښې دعوې راولاړه کړي .

دولت د هغو حالاتو نه پرته چه قانون ئی ځرگندوې بی دواکمنی محکمی له حکمه د خپلو حقونو د تحصیل اقدام نشی کولی .

**څلور دیرشمه ماده**— تعلیم د افغانستان د ټولو وگړو حق دی او د افغانستان د دولت او اتباعو له خوا وړیا برابریږي .

په دې برخه کښې د دولت هدف یوې داسی مرحلې ته رسیدل دې چه دافغانستان د ټولو وگړو د پاره پکښې د قانون د حکمونو سره سم د روزنی او ښوونې مناسبې آسانتیا وې را غونډې شی .

دولت مکلف دې چه په ټول افغانستان کی د پوهنی د متوازن تعمیم لپاره موثر پروگرام وضع او تطبیق کړي .

د ښوونې او روزنې لارښودنه او څارنه د دولت وظیفه ده .

لومړنی ښودنی د ټولو ماشومانو د پاره په هغو ځایونو کښې چه وسیلې ئې د دولت له خوا برابرې شوې وې حتمې دې .

د لوړ او عمومی تعلیم د موء سسو جوړول او چلول یوازی د دولت حق او وظیفه ده . د دې نه وراخوا دافغانستان اتباع حق لري چه اختصاصی یا د لیک لوست د ښودو د پاره ښوونځی جوړ کړي . د داسی ښوونځيو د جوړونی شرطونه ، تعلیمی نصاب او پکښې د زده کړې شرایط د قانون له پلوه ښودل کیږي .

حکومت کولی شی چه د قانون د حکمونو سره سم خارجی کسانو ته د خصوصی ښوونځيو د جوړولو اجازه

بدون ارائه قبلی آن به مقامات دولتی بپردازد

اجازه و امتیاز تأسیس مطابع عمومی و نشر مطبوعات تنها با تباع و دولت افغانستان مطابق با حکام قانون داده میشود.

تاسیس و تدویر دستگاه عامه فرستندهٔ رادیو و تلویزیون مختص بدولت است.

**ماده سی و دوم**— اتباع افغانستان حق دارند برای تأمین مقاصد جایز و صلح امیز بدون حمل سلاح مطابق به احکام قانون بدون اجازه قبلی دولت اجتماع نمایند.

اتباع افغانستان حق دارند بمنظور تأمین مقاصد مادی یا معنوی مطابق به احکام قانون جمعیت ها تاسیس نمایند.

اتباع افغانستان حق دارند مطابق به احکام قانون احزاب سیاسی تشکیل دهند مشروط بر اینکه :

۱/ هدف و فعالیت حزب و مفکوره هائیکه تشکیلات احزاب روی آن بناء شده مناقض ارزش های مندرج این قانون اساسی نباشد.

۲/ تشکیلات و منابع مالی حزب علنی باشد.

حزبیکه مطابق به احکام قانون تشکیل می یابد بدون موجبات قانونی و حکم ستره محکمه منحل نمیشود

**ماده سی و سوم**— هر شخص که از اداره بدون موجب متضرر شود مستحق جبران خساره میباشد و میتواند برای حصول آن در محکمه دعوی اقامه کند.

دولت نمیتواند بجز در حالاتیکه قانون تصریح میکند بدون حکم محکمه با صلاحیت به تحصیل حقوق خود اقدام کند .

**ماده سی و چهارم**— تعلیم حق تمام افراد افغانستان است و بصورت مجانی از طرف دولت و اتباع افغانستان فراهم میشود .

هدف دولت در این ساحه رسیدن به مرحله ایست که در آن تسهیلات مناسب تعلیم و تربیه برای همه افراد افغانستان مطابق به احکام قانون فراهم گردد.

دولت مکلف است برای تعمیم متوازن معارف در تمام افغانستان پروگرام موثری وضع و تطبیق نماید .

رهنمونی و نظارت تعلیم و تربیه وظیفهٔ دولت است .

تعلیمات ابتدائی برای تمام اطفال در نقاطی که وسائل آن از طرف دولت تهیه شده حتمی میباشد .

تأسیس و اداره موءسسات تعلیم عالی و عمومی تنها حق و وظیفهٔ دولت است. د رخارج این ساحه اتباع افغانستان حق دارند مکاتب اختصاصی و سواد آموزی تأسیس نمایند.

شروط تأسیس ، نصاب تعلیم و شرایط تحصیل در چنین مکاتب توسط قانون تنظیم میگردد .

حکومت میتواند مطابق به احکام قانون باشخاص

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړی . دداسی ښوونځیونه یوازې خارجی کسان فایده اخستلی شی.

**پنځه دیرشمه ماده**ـ دولت موظف دی چه دملی ژبی پښتودانکشاف اوتقویی دپاره موثرپروگرام جوړاوتطبیق کړی .

**شپږدیرشمه ماده**ـ دولت موظف دی چه ترخپله وسه ټولوافغانانو لپاره په متوازن ډول دناروغیودمخنیوي اوعـلاج وسیلی برابری کړی . په‌دې برخه کښی ددولت‌هدف یوداسی پړاو ته رسیدل دی چه دروغتیا مناسبی اسانی پکښی دافغانستان دټولووگړودپاره برابرې شی .

**اووه‌دیرشمه‌ماده**ـ کاردافغان حق اود غاړې فرض دی چه دکولو وس ئی لری .

دکارد تنظیم دپاره چه‌کوم قوانین جوړیږی دهغولوی هدف یوې داسی مرحلی ته رسیدل دی چه دکـاریګـرو دبیلوبیلوډ لوحقونه اوښیگړې پکښی خوندی شی . دکـار مناسب حالات راپید اشی اودکاریګراوکارفرمایانوترمنځ روابط په عادلانه اوپرمخ تللی ډول ټینګ‌شی .

د افغانستان اتباع داهلیت له مخې اودقانون دحکمونو سره سم ددولت دخدمت دپاره منل کیږی .

دکاراوکسب غوره کول په هغوشرطونوکښی دننه چه قانون ټاکلی دی آزاد دی .

بیگا رکه‌د دولت‌دپاره‌هم وی نارو ادی. دبیگاربندیزدهغو قوانینودعملی کولوپه لاره کښی چه دعمومی ښیګړوپه نیت د یوځائی کـاردسمښت دپاره جـوړیږی کـوم خنډ نـه راپـورتـه کـوی.

**اته‌دیرشمه‌ماده**ـ هرافغان مکلف دی چه دولت ته مالیه اومحصـول ورکړی . هیڅ قسم مالیه اومحصول بی دقانون له حکمـه نه شی ټرل کیدی . دمالیی اومحصول اندازه اودورکولو لارې چارې یی داجتماعی عدالت سره سم دقانون له‌خوا ښودل کیږ ی . دا حکم په خا رجی ا شخا صو باند ې هم چلیږی .

**نه‌دیرشمه‌ماده**ـ دهیواد څخه دفاع دافغانستان د ټولواتبا عوسپیڅلی وظیفه ده . دافغانستان ټول اتباع دقانون‌دحکمونوسره سم دعسکری خدمت په‌کولومکلف دی .

**څلویشتمه‌ماده**ـ د اساسی قانون په حکمونوسم چلیدل ، دباچاسره وفادارې‌اودهغه درناوې کول ، قوانینوته غـاړه‌ایښودل ، دعمومی نظم اوامن‌خیال لرل ، دهیواددښیګڼوساتل‌اوپه‌ملی ژوندکښی گډون کول دافغانستان دټولوخلکووظیفه ده .

## څلورم‌فصل

# شوری

**یوڅلویښتمه‌ماده**ـ شوری‌دافغانستان دخلکود ارادې څرګند و یـه ده‌اودټول ملت نمایندگی کوی.

خارجی اجازه تأسیس مکاتب خصوصی بـدهد . ازایـن مکاتب تنها اشخاص خارجی میتوانند استفاده کنند .

**ماده‌سی‌وپنجم**ـ دولت موظف است‌پروگرام موثری برای‌انکشاف وتقویه زبان ملی پښتووضع وتطبیق کند .

**ماده‌سی‌وششم**ـ دولت مـوظف است درحدود توان‌خود وسائـل وقایه ازامراض وعلاج‌آنرا بصورت متوازن بـرای همـه افغان‌ها تهیه‌کنـد. هـدف دولت درین ساحه رسیدن بـه مرحله ایست‌که درآن تسهیلات صحی مناسب برای تمـام افراد افغانستان فراهم گردد .

**ماده‌سی‌وهفتم**ـ کارحق وفریضهٔ هرافغا نیست که‌قدرت اجرای‌آنرا داشته باشد.

هدف عمده قوانینی‌که برای تنظیم کاروضع میگـردد رسیدن بمرحله ایست که در آ ن حقو ق ومنافع اصنـاف کارگران‌حمایت‌شود. شرایط‌مساعدکارفراهم‌گردد، روابط بین کـارگران وکارفرمایان بصورت عادلانـه‌ومترقـی تنظیـم یـابد.

اتباع افغانستان به اساس اهلیت وبمـوجب احکـام قانون بخدمت دولت پذیرفته میشوند .

انتخاب شغل وحرفه دردا خل شر ایطیکه قانـون تعیین مینمایـد آزاد میبا شد .

تحمیل کاراجباری‌اگرچه برای‌دولت‌باشد جوازندارد تحریم کاراجباری مانع تطبیق قوانینی نمیشودکـه بمنظور تنظیم فعالیت‌دسته جمعی برای تأمین‌منافع‌عامه‌وضع‌میگردد.

**ماده‌سی‌وهشتم**ـ هرافغان‌مکلف‌است‌به‌دولت‌مالیه‌ومحصول تادیه‌کند هیچ نوع محصول ومالیه بدون حکم قانون وضع نمیشود.

اندازه مالیه‌ومحصول وطرزتادیهٔ‌آن بارعایت‌عدالت اجتماعی توسط قانون تعیین میگردد . این حکم درمـورد اشخاص خارجی نیزتطبیق میشود .

**ماده‌سی‌ونهم**ـ دفاع ازوطن وظیفه‌مقدس تمام اتباع افغانستان‌است کافه اتباع افغانستان به اجرای خدمت عسکری مطابق بـه احکام قانون مکلف میباشند .

**ماده چهلم**ـ پیروی ازاحکام قانون اساسی ، وفاداری واحترام بـه پادشاه ، اطاعت به قوانین ، رعایت نظم وامـن عامه ، صیانت منافع وطن واشتراك درحیات ملی وظیفه‌تمام‌مردم افغانستان میباشد .

## فصل‌چهارم

# شوری

**ماده‌چهل‌ویکم**ـ شوری‌افغانستان مظهراراده مردم‌آنست‌وازقاطبهٔ‌ملت نمایندگی می کند .

د افغانستان خلك‌دشوری‌له‌لاره دی مملکت په‌سیاسی ژوند کښی برخه اخلی .

دشوری هرغړی که‌څه هم له یوی تاکلی سیمی څخه‌غوره شوی دراپی دڅرګندولو په وخت کی د افغانستان عامی ښیګڼی په نظر کښی نیسی .

**دوه‌څلویښتمه‌ماده** ــ شوری‌دوی‌ټولنی لري: اولسی جرګه اومشرانو جرګه .

**دری‌څلویښتمه‌ماده** ــ دولسی جرګی غړي‌دآزادو ــ عامو، پټو او سماسمو انتخاباتو په ذریعه د قانون د حکمونو سره سم دافغانستان دخلکو له‌خوا غوره کیږي .

ددی‌مقصدد پاره افغانستان په انتخابی ونډو نو ویشل کیږي .

د ونډو نو شمار او سیمه‌دقانون له‌مخه تاکل کیږی .

دهره ونډه نه یو وکیل غوره کیږی .

دوکالت د پاره هرملاتړلی چه‌په‌خپله‌ونډه کښی دقانون دحکمونو سره سم ترټولو زیاتی رائی وګټی وکیل بلل کیږي .

**څلورڅلویښتمه‌ماده** ــ داولسی جرګی غړی د څلور وکالونو د پاره چه‌یوه تقنینی دوره‌ده‌غوره کیږی .

که‌چیری‌شوری ددی‌اساسی قانون دحکمونو سره سمه رنګه شی نو ــ نوي اولسی جرګه دیوی تقنینی دوري د پاره غوره کیږي ــ خو د پای ته‌رسیدلو نیټه به‌ئی په داسی ډول تیاریږی چه‌وروسی اولسی جرګه جوخته‌په‌هغه نیټه پرانستله شی چه په نهه پنځوسمه ماده کښی تاکل‌شوي ده .

**پنځه‌څلویښتمه‌ماده** ــ دمشرانو جرګی غړی په‌دی‌طریقه تاکلی کیږی اوغوره کیږي : ــ

۱ ــ دریمه برخه غړی دپوهواو ازمیښتوالو کسانو له منځه دباچا له‌خوا دپنځو کالونو د پاره تاکل کیږي .

۲ ــ پاتی دوه برخی غړی په‌دی‌شان غوره کیږي : ــ

الف ــ دهرولایت جرګه‌دخپلوغړو له‌منځه یوتن ددری کالونو د پاره دمشرانو جرګی په‌غړیتوب غوره کوی .

ب ــ دهرولایت استوګنی دآزادو ــ عامو ــ پټو او سماسمو انتخاباتو په لاریو کس دڅلورو کالونو د پاره دمشرانو جرګی په‌غړیتوب غوره کوی .

**شپږڅلویښتمه‌ماده** ــ دانتخاب کوونکو شرطونه‌د انتخاباتو په‌قانون کښی ښودل کیږی .

هغه کسان چه‌دشوری په‌غړیتوب تاکل کیږی یاغوره کیږی په کار دي چه‌دانتخاب کوونکو په‌شرطونو سربیره‌دغه صفتونه‌هم ولري : ــ

۱ ــ دشوری په‌غړیتوب باندی دتاکل کیدو ویاغوره کیدونه رومبی یی لزتر لزه لس کاله پخوا دافغانستان ددولت تابعیت حاصل کړی وی .

۲ ــ ددی اساسی قانون د نافذ کیدو نه‌وروسته‌دمحکمی له‌خوا دسیاسی حقونو څخه په‌محرومی محکوم‌شوی نه‌وی .

۳ ــ په لیك لوست به‌پوهیږی .

مردم افغانستان به توسط شوری در حیات سیاسی مملکت سهم میگیرند . هر عضو شوری در حالیکه ازیك حوزه معین انتخاب شده در موقع اظهار رای مصالح عمومی افغانستان را مدار قضاوت خود قرار میدهد .

**ماده‌چهل‌ودوم** شوری دارای دو مجلس میباشد: اولسی جرگه ومشرانو جرگه .

**ماده‌چهل‌وسوم** اعضای ولسی جرگه توسط انتخابات آزاد ــ عمومی ــ سری و مستقیم مطابق با حکام قانون از طرف مردم افغانستان انتخاب میشود . افغانستان باین منظور به‌حوزه‌های انتخابی تقسیم میگردد . تعداد وساحه‌حوزه‌ها توسط قانون تعیین میشود . ازهرحوزه یك نفروکیل انتخاب میگردد. داوطلبی که درحوزه خودمطابق باحکام قانون رای بیشتر حاصل میکند وکیل شناخته میشود .

**ماده‌چهل‌وچهارم** اعضای ولسی جرگه برای مدت چهار سال که یك دوره تقنینیه است انتخاب میشوند هرگاه شوری مطابق به احکام این قانون اساسی منحل شود ولسی جرگه جدید برای یك دوره تقنینیه انتخاب میگردد . ولی تاریخ ختم آن طوري تنظیم می شود که جرگه ما بعد بتاریخیکه در ماده پنجا ونهم تثبیت گردیده افتتاح شود .

**ماده‌چهل‌وپنجم** اعضای مشرانو جرگه به ترتیب ذیل تعیین وانتخاب میشود :

۱ ــ یك ثلث اعضاء ازجمله افرادخبیر و با تجربه برای مدت پنج سال ازطرف پادشاه تعیین میشود.

۲ ــ دو ثلث دیگر اعضاء بر حسب آتی انتخاب میشوند :

الف ــ هرجرگه ولایت یکنفر ازجمله اعضای خود را برای مدت سه سال بعضویت مشرانو جرگه انتخاب میکند .

ب ــ ساکنین هرولایت یکنفر را ازطریق انتخابات ــ آزاد عمومی ــ سری و مستقیم برای مدت چار سال بعضویت مشرانو جرگه انتخاب میکند .

**ماده‌چهل‌وششم** شرایط انتخاب کنندگان در قانون انتخابات تعیین میگردد . اشخاصیکه بعضویت شوری تعیین یا انتخاب میشوند باید علاوه بر تکمیل شرایط انتخاب کنندگان واجد اوصاف ذیل باشند :

۱ ــ اقلاً ده سال قبل از تاریخ تعیین یا انتخاب تابعیت دولت افغانستان را کسب کرده باشند .

۲ ــ بعد از نفاذ این قانون اساسی از طرف محکمه بحرمان ازحقوق سیاسی محکوم نشده باشند .

۳ ــ خواندن ونوشتن بدانند .

(c) ketabton.com: The Digital Library



٤ـ دولسی جرگی غړو به دانتخاب پــه وخت کښی دخپل عمر پینځویشتم او دمشرانو جرگی غړو به د تــاکــل کیدو په وخت کښی دخپل عمر دیرشم کال پوره کړی وي.

**اووه څلویښتمه ماده** ـ دحکومت مشر او غــړی ـــ قــاضیان ـــ دارد و منصبداران او افراد . مامورین او نور اداری کارکوونکی دخپلو وظیفو دچلولو په وخت کښی دشوری په غړیتوب تاکــل کیــدی یا غوره کیدی نه شی .

**اته څلویښتمه ماده** ـ هیڅوک په یو وخت کښی ددوا ړو جرگو غـړی کیدی نشی .

**نه څلویښتمه ماده** ـ ددی اساسی قانون دحکمونو له رعایت سره انتخابات دقانون دحکمونو سره سم کیږی .

داولسی جرگی دتقنینی دوری په وروستو دوو کلونو کښی دانتخاباتو دقانون دتعدیل پیشنهاد دهیڅ یوی جــرگــی دکار په فهرست کښی نه شی داخلیدی.

**پنځوسمه ماده** ـ دهری جرگی دغړیتوب وثیقی په هم هغه جــرگــه کښی دکره کتنی لاندی نیول کیږی .

دوثیقو دکره کتنی لاری چاری د هری جرگــی دداخــلی وظیفو په اصولــو کښی ښودل کیږی .

**یو پنځوسمه ماده** دشوری هیڅ یو غړی دهغی نظرئی له کبله چــه دخپلی وظیفی د پر ځای کولو په وخت کښی ئی د نه په شوری کښی یا د باندی ښکاره کوی دعدلی تعقیب لاندی نه راځی

که چیری دشوری په یو غړی باندی یو جرم تور پوری شی نومسئول مامور ددغی پیښی خبر هغی جــرگی ته ورکوی چــه دی پکښی غړیتوب لری او پس له هغه چه د جرگی دوه برخی غړی اجازه ورکاندی تورن دعدلی تعقیب لاندی راځی .

جرگه کولی شی چه خپله اجازه ددوو برخو غړو په اکثریت بیرتــه واخلــی .

دشــرگند جرم په باب مسئول مامور کولی شی چه تورن بی دهغه جرگی داجازی نه چه دی ئی غړی دی دتعقیب لاندی راولی او وئی نیسی که چری عدلی تعقیب دقانون له مخی دتوقیف غوښتنه کوله .

نومسئول مامور مکلف دی چه سملاسی هغی جرگی ته خبر ورکړی چه دی ئی غړی دی او کــه نوموړی جرگه اجازه وکړی نو تورن توقیف کیدلی شی .

کــه چري تور پــه داسی وخت کښی پیښ شی چه جــرگه خوره شوی وي نو دتوقیف اجازه دجرگی له اداری هیئت نه غوښتل کیږی او دهیئت فیصله دجــرگی لومړی راتلونــکی غوندی ته دپریکړی دپاره وړاندی کیږی.

**دوه پنځوسمه ماده** ـ دشوري غړي په بله چاره بوختیدلای نه شی.

کرهنه او نوري آزادي چاري ددی حکم لاندی نه راځی .

**دري پنځوسمه ماده** ـ دشوري دغــړو دپاره دقانــون دحــکم سره سم مناسب معاش تاکل کیږي.

٤ ـ اعضای ولسی جرگه باید سن بیست و پنج را در موقع انتخاب و اعضای مشرانو جرگه سن سی را درموقع تعیین یا انتخاب تکمیل کرده باشند .

**ماده چهل و هفتم** رئیس واعضای حکومت، قضــات ، صاحب منصبان وافراد اردو ، مامورین ودیگر کارکنان اداری نمیتوانند در هنگام تصدی وظیفه بعضویت شوری تعیین یا انتخــاب شوند .

**ماده چهل و هشتم** هیکس نمیتوانـد دریک وقت عضو هردو جرگــه بــاشد.

**ماده چهل و نهم** بارعایت احکام این قانون اساسی انتخابات مطــابــق بــه احکام قانون صورت می پزیرد .

پیشنهاد تعدیل قانون انتخابات در دو سال اخیر دوره تقنینیه ولسی جرگه در فهرست کار هیچ یک از دو جرگه داخل شده نمیتواند .

**ماده پنجاهم** وثایق عضویت در هر جرگه توسط خود جرگه تدقیق میگردد.

طرز تدقیق وثایق در اصول وظایف داخلی هر جرگه تعیین میشود .

**ماده پنجاه و یکم** هیچ عضو شوری به علت رای یا نظریه ایکه هنگام اجرای وظیفه در داخل شوری یا خارج از آن ابراز میدارد مورد تعقیب عدلی قرار نمیگیرد .

هرگاه یک عضو شوری به جرمی متهم شود ـ مامــور مسئول از موضوع به جرگه ایکه متهم عضو آنست اطــلاع میدهد و بعد از آنکه جرگه مذکور با کثریت دو ثلث اعضاء اجازه بدهد متهم تحت تعقیب عدلی قرار میگیرد، جرگه میتواند اجازه خودرا با اکثریت دو ثلث اعضاء مسترد نماید .

در موارد جرم مشهود مامور مسئول میتواند متهم را بدون اجازه جرگه ایکه او عضو آن میباشد تحت تعقیب عدلی قرار دهد و گرفتار نماید .

هرگاه تعقیب عدلی قانوناً توقیف را ایجاب کند مامور مسئول مکلف است موضوع را بلا فاصله با طلاع جرگه مربوطه برساند و درصورتیکه جرگه مذکور اجازه بدهــد متهم توقیف شده میتواند. درصورتیکه اتهام در هنگام تعطیل جرگه صورت بگیرد اجازه توقیف از هیئت اداری جرگه حاصل میگردد. فیصلهٔ هیئت به نخستین جلسهٔ آینده جــرگه جهت اخذ تصمیم ارائه میشود .

**ماده پنجاه و دوم** اعضای شوری نمیتوانند بشغل دیگری اشتغال ورزند.

این حکم شامل زراعت و دیگر مشاغل آزاد نمیباشد .

**ماده پنجاه و سوم** برای اعضای شوری معاش مناسب مطابق باحکام قانون تعیین میگردد .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلورپنځوسمه ماده**ــ دشورئ هریوغړی حق لری چه پخپله جرگه کښې

دهغه موضوع په باب چه خبرې پرې روانې وې خپله نظریه

دداخلی وظایفو په اصولو برابره څرگنده کړې .

**پنځه پنځوسمه ماده**ــ دواړه جرگې په یووخت کښې بیلې بیلې غونډې کوې.

مشرانو جرگه کولی شی چه ددولتی بودجې د پیشنهاد

دکتنې دپاره داولسی جرگې درخصتۍ پــه موده کښې خپله

فوق العاده غونډه وکاندی.

کله چه تقنینی دوره یا کلنۍ غونډه دباچا لــه پلوه پــرانستله

کیږی دواړه جرگې شریکه غونډه کوی.

**شپږپنځوسمه ماده**ــ حکومت کولی شی چه دهــرې یــوې جرگې پــه

غونډه کښې شریك شی .

هره جرگه کولی شی چه خپلې غونډې ته صدراعظم یا دحکومت

غړی راوغواړې.

**اووه پنځوسمه ماده**ــ ددواړو جرگو مباحثه به ښکاره وې مگر هله نه! چه

دحکومت مشر ، دجــرگې مشر یا لږترلږه دجرگې لس تنه غړې

داغوښتنه وکړی چه جرگه دې پټه وشی او جرگه داغوښتنه ومنی ـ

جرگـــه کولی شـــی چـــه ددوه برخـــوغړو په اکثریت

هغه مباحثه چه پټه شروع شوې وی بیرته ښکاره کـانـدې.

دهرې جرگې د مباحثې جریان به ثبتیږی.

هیڅوك په سرزورئ د شورئ دیره ځای ته ننوتلای نه شی

اوکه څوك ددې حکم مخالفت وکړې دقانون د حـکمونـو

له مخه سزاوار کوله شی .

**اته پنځوسمه ماده**ــ بې لــه هغو حالاتو چه حکم ئې پــه دې اساسی

قانون کښې څرگندذکردې دهرې جرگې فیصله دحاضروغړو

درایو په اکثریت کیږې.

**نهه پنځوسمه ماده**ــ هره جرگه په هرکال کښې یو ه عادې غونډه کوې

چه دمیزان په دوه ویشتمه نیټه شروع کیږې. دکـلنیو غونډو

شمار دقانون له پلوه زیاتید لی شی اوپه دې صورت کښې

دغونډې د شروع نیټه او دغونـدې موده دقـانون لـه خوا

ښو دله کیږې.

دهرې جرگې دکارموده په کال کښې اووه میاشتې ده.

دکاردغوښتنې په صورت کښې هره جرگه کولی شی چه

داموده نوره هم اوږده کړی.

درخصتۍ په وخت کښې دباچا په امر ، دحکومت یاد دواړو

جرگوڅخه دیوې دمشر یادیوې جرگې د پنځمې برخې غړو

په غوښتنه دشورئ فوق العاده غونډه دائریدلی شی.

فوق العاده غونډه دهغه باچائی فرمان په ذریعه ختمیږې چه

ددواړو جرگو دمشرانو سره له سلا نه وروسته را و وځی.

**شپیتمه ماده**ــ دمشرانو جرگې مشرددغه جرگې دغړو له منځه د باچا

له خوا ټاکل کیږې.

اولسی جرگه دخپلوغړو له منځه یو کس دمشر پــه توگه

**ماده پنجاوچهارم** هرعضوشوری حق دارد درجرگهٔ مربوطه خــود

درموضوع موردمباحثه نظریهٔ خودرا مطابق به اصول وظایف

داخلی اظهار کند .

**ماده پنجاه و پنجم**ــ هردوجرگه در وقت واحــد بصورت جداگانه

اجلاس میکنند.

مشرانو جرگه میتواند برای مطالعه طرح بودجهٔ دولت در

مدت تعطیل اولسی جرگه جلسه فوق العاده خود رادایر کند.

درموقعیکه دوره تقنینیه یا اجلاس سالانه ازطرف پادشاه افتتاح

میگردد جلسه مشترك هر دوجرگه دائر میشود.

**ماده پنجاه و ششم**ــ حکومت میتواند درجلسات هریك از دو جــرگه

اشتراك ورزد.

هرجرگه میتواند حضور رئیس یا اعضای حکومت را در

جلسهٔ خود مطالبه کند.

**ماده پنجاه و هفتم**ــ مباحثه جلسات هردوجرگه علنی میباشد. مگراینکه

رئیس حکومت ــ رئیس جرگه یا اقلاً ده نفرازاعضأسری

بودن انرادرخواست نماید وجرگه این درخواست رابپذیرد

جرگه میتواند باکثریت دوثلث اعضأ مباحثه ایراکه بطور

سری صورت گرفته دوباره علنی بسازد.

جریان مباحثه هردوجرگه ثبت میگردد.

هیچکس نمیتواند عنفاً به مقر شوری داخل شود. متخلفین

مطابق به احکام قانون مجازات میشود.

**ماده پنجاه و هشتم**ــ جز در مواردیکه حکم آن صریحاً در این قانون

اساسی ذکــرگردیده تصمیم هرجــرگــه باکثریت آراءی

اعضای حاضر اتخاذ میگردد.

**ماده پنجاه و نهم**ــ هرجرگه در هرسال یك اجلاس عادی دائر میکنند

که بتاریخ بیست ودوم میزان آغاز میگردد تعداد اجــلاس

سالانــه توسط قانون تزئید شده میتواند. درینصورت تاریخ

آغاز اجــلاس ومدت آن توسط قانون تنظیم میگردد .

مدت کــار هرجرگه درهرسال هفت ماه است. درصورت

ایجاب کار هرجرگه میتواند این مدت را تمدید نماید.

درهنگام تعطیل بامر پادشاه ، بدرخواست حکومت یارئیس

یکی ازدوجرگه یایك خمس ازاعضای آن اجلاس فوق العاده

شوری دائر میشود.

جلسه فوق العاده توسط فرمان پادشاهی کــه بعد از

مشوره باروسای د و جر گه صدورمی یابد ختم میگردد .

**ماده شصتم**ــ رئیس مشرانو جرگه از بین اعضای آن ازطرف پادشاه

تعیین میشود.

ولسی جرگه از بین اعضای خود یکنفر را بحیث رئیس انتخاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوره کوی ــ هره جرگه دخپلو غړو له منځه دمشر لومړی نائب، یودوهم نائب، یومنشي او یو دمنشي نائب غوره کوی.

دغه پورتني کسان دجرگی اداري هیئت دی. دولسی جرگی اداري هیئت دتقنیني دورې په اول سر کښي غوره کیږی دمشرانو جرگی دمشر نائبان، منشي او نائب منشي دهر کال دغونډو په سر کښي دیو کال دپاره غوره کیږي.

دهرې جرگی مشر دجرگی مباحثه اداره کوی او دجرگی په دیره ځای کښي دنظم او قلارۍ ساتلو دپاره ضروری انتظام کوې.

دمشر نورې وظیفی دداخلي وظیفو په اصولو کښي ښودل کیږی.

دمشر په غیاب کښي اول نائب او که هغه نه وی دوهم نائب دمشر وظیفه چلوې.

دهرې جرگی منشي دجرگی مباحثي ثبتوی او دجرگی ددارالانشاء دچارو انتظام کوی.

دمنشي په غیاب کښي نائب دهغه وظیفه چلوی.

یوشپیتمه ماده ــ هره جرگه دبحث لاندی موضوعاتو دپراخی او کره کتني دپاره دداخلي وظیفو داصولو په حکمونو برابر تولکی جوړوی.

دوه شپیتمه ماده ــ هره جرگه دخپلو داخلي وظایفو اصول جوړ وی.

دری شپیتمه ماده ــ شوری دباچا په امر ماتیدلی شي. په یوسل او یویشتمه ماده کښي دبیان شوی حالت له مخه دشوری ماتیدل هرومرو دی.

دشورې په ماتیدو کښي دمشرانو جرگی غیر انتخابی غړی هم شامل دي.

څلورشپیتمه ماده ــ شوری دافغانستان دحیاتي چارو دتنظیم دپاره ددی اساسي قانون په حکمونو برابر قوانین جوړوی. هیڅ قانون نه شي کولی چه داسلام دسپیڅلی دین له اساسونو او دنورو هغو ارزښتونو مناقض وي چه په دی اساسي قانون کښي راغلي دي.

دبین الدول معاهدو تصدیقول، خارج ته دافغانستان داردو دټولګو لیږل ــ دپیسو خپرولو او پور اخستلو اجازه ورکول او داسی امتیازونه ورکول چه په ملي اقتصاد کښي اهمیت لری او انحصار هم پکښي شامل دي دشوری په واک اختیار کښي دی. هغه امتیازات چه ورکول ئي دشوری په صلاحیت کی دی دقانون له پلوه ښودل کیږي.

پنځه شپیتمه ماده ــ حکومت اولسی جرگې ته مسئول دی.

شپږ شپیتمه ماده ــ دولسی جرگی غړی کولی شي چه دحکومت نه څرگند تیاوغواړی. دحکومت دورکړې څرگندتیا په باب مباحثه دجرگی په فیصله پورې اړه لری.

اووه شپیتمه ماده ــ دشوری غړې کولی شي چه دصدراعظم یا وزیرانو څخه په ټاکلو موضوع گانو کښي پوښتني وکړی.

میکند. هرجرگه از بین اعضای خود یکنفر نائب اول رئیس یك نفر نائب دوم رئیس یکنفر منشي ویك نفر نائب منشي انتخاب میکند.

اشخاص فوق هیئت اداری جرگه را تشکیل میدهند.

هیئت اداری اولسی جرگه در آغاز دوره ٔ تقنینیه انتخاب میشود. نائبان رئیس، منشي و نائب منشي مشرانو جرگه در آغاز اجلاس سالانه برای مدت یك سال انتخاب میگردد.

رئیس هر جرگه مباحثه جرگه مذکور را اداره مینماید. وبرای برقراری نظم وامنیت در مقر جرگه تدابیر لازم اتخاذ میکند. سائر وظایف رئیس دراصول وظائف داخلی تعیین میگردد. درغیاب رئیس نائب اول ودرغیاب نائب اول نائب دوم وظیفه رئیس را اجراء میکند.

منشي هرجرگه مباحثات انرا ثبت میکند و امور دارالانشاء جرگه راسرپرستی مینماید. درغیاب منشي نائب وظیفه او را اجراء میکند.

ماده شصت ویکم ــ هرجرگه برای مطالعهٔ دقیق ومفصل موضوعات مورد بحث برطبق احکام اصول وظائف داخلی، انجمن ها تعیین مینماید.

ماده شصت ودوم ــ هرجرگه اصول وظائف داخلی خود را وضع مینماید.

ماده شصت وسوم ــ شوری میتواند به امر پادشاه منحل شود. انحلال شوری درحالت مندرج ماده یکصدو بیست و یکم حتمی است.

انحلال شوری شامل اعضای غیرانتخابی مشرانو جرگه نیز میباشد.

ماده شصت وچارم ــ شوری برای تنظیم امور حیاتی افغانستان مطابق به احکام این قانون اساسی قوانین وضع میکند. هیچ قانون نمیتواند مناقض اساسات دین مقدس اسلام ودیگر ارزش های مندرج این قانون اساسی باشد.

تصدیق معاهدات بین الدول، فرستادن قطعات اردوی افغانستان بخارج، اعطای امتیازات دارای اهمیت در اقتصاد ملی بشمول انحصار، اجازهٔ نشر پول واخذ قرضه از صلاحیت شوری میباشد. امتیازاتیکه اعطای آن از صلاحیت شوری میباشد توسط قانون تعیین میگردد.

ماده شصت وپنجم ــ حکومت نزد اولسی جرگه مسئول میباشد.

ماده شصت وششم ــ اعضای اولسی جرگه میتوانند از حکومت استیضاح نمایند. مباحثه در مورد توضیحی که از طرف حکومت داده میشود به تصمیم جرگه منوط میباشد.

ماده شصت وهفتم ــ اعضای شوری میتوانند از صدراعظم یا وزراء در موضوعات معین سوال بنماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له چانه چه پوښتنه شوې وې هغوی د خولی یا لیکلی جواب پهورکولو مکلف دی ـ دا جواب د بحث لاندې نه شی راتلای.

**اته شپیتمه ماده ـ** اولسی جرگه واك لری چه د خپلو دریمه برخه غړو په پیشنهاد د حکومت د چارو او د اداری د اجرااتو د کتنی او څیړنی دپاره د څیړنی ټولگی وټاکی.

د څیړونکی ټولگی جوړیدنه او د هغه تگ لارد داخلی وظیفو په اصولو کښې ښودل کیږی.

**نه شپیتمه ماده ـ** د هغو حالاتو په پرته چه په دې اساسی قانون کښې د هغو دپاره د عمل خاصی لارې چارې ښودلې شوې دې قانون هغې مصوبې ته وائی چه د واړو جرگو په گډه منلې وې او باچا ښکوللې وې.

په کومه برخه کښې چه داسې مصوبه نه وې هلته قانون د اسلامی شریعت د حنفی فقهې حکمونو ته وایی.

**اویاومه ماده ـ** د قانون جوړولو پیشنهاد د حکومت یا د شوری د غړو له خوا کیږی او د قضائی چارو د سمون په برخه کښې د ستري محکمی له خوا هم کیدې شی.

**یو اویاومه ماده ـ** د قانون جوړولو پیشنهاد د حکومت یا ستري محکمی له خوا په دواړو جرگو کی هرې یوې ته وړاندې کیدی شی

**دوه اویاومه ماده ـ** که چیرې د قانون د وضع کولو پیشنهاد د دواړو جرگو نه د یوې جرگی د غړو له خوا وشی او د همدغی جرگی لس تنه غړې یی مرسته وکړی نو پس له هغه د کار په فهرست کښې نیول کیږی.

که چیرې د قانون جوړولو په پیشنهاد کښې د نوې بودجی یا د دولت په عایداتو کښې د کمې راوستلو سپارښتنه شوې وې نو په دې شرط د کار په فهرست کښې راتلای شی چه د پیشنهاد په متن کښې د دغه تاوان د پوره کولو لارې چارې ښودل شوی وې.

د ستري محکمی له خوا د قانون جوړولو پیشنهاد د دې حکم لاندې نه راځی.

**دری اویاومه ماده ـ** کله چه د قانون جوړولو پیشنهاد د یوې جرگی د کار په فهرست کښې واخستی شی نو لومړې خپلې جرگه گۍ ته سپارل کیږی او پس له هغه چه جرگه گۍ پرې خپله نظریه څرگنده کړې دغه پیشنهاد او د جرگه گۍ نظریه د جرگی په وړاندې لوستل کیږې او مباحثه پرې کیږې ـ وروسته د هرې مادې په باب رایی غوښتل کیږې او بیا پیشنهاد په دوهم وار لوسته شی او په یوځائې ډول د هغه د منلو یا نه منلو په باب رائی اخستلی کیږې.

**څلور اویاومه ماده ـ** که چرې د یوی جرگی تصویب د بلی جرگی له پلوه ونه منل شی نو د دغه اختلاف د لرې کولو دپاره د قانون په حکمونو سم د دواړو جرگو د غړو نه په برابر شمیر یو گډ هیئت جوړیږې ـ د هیئت فیصله د باچا له ښکولو وروسته نافذه گڼل کیږې.

خو که دغه هیئت ونه کولای شو چه اختلاف لرې کړې

---

اشخاصیکه از آن ها سوال به عمل آمده مکلف اند جواب شفوی یا تحریری بدهند. این جواب مورد مباحثه قرار نمی گیرد.

**مادهٔ شصت و هشتم ـ** ولسی جرگه صلاحیت دارد به پیشنهاد یك ثلث از اعضای خود جهت تحقیق و مطالعه اعمال حکومت و اجراآت اداره انجمن تحقیق تعیین نماید.

ترکیب و طرز العمل انجمن تحقیق در اصول وظائف داخلی تثبیت میگردد.

**مادهٔ شصت و نهم ـ** باستثنای حالاتیکه برای آن طرز عمل خاصی درین قانون اساسی تصریح گردیده. قانون عبارتست از مصوبه موافق هردو جرگه که به توشیح پادشاه رسیده باشد. در ساحه ایکه چنین مصوبه موجود نباشد عبارتست از احکام فقه حنفی شریعت اسلام.

**ماده هفتادم ـ** پیشنهاد وضع قانون از طرف حکومت یا اعضای شوری و در ساحه تنظیم امور قضائی از طرف ستره محکمه صورت گرفته میتواند. پیشنهاد وضع قانون درمورد بودجه و امور مالی تنها از طرف حکومت صورت میگیرد.

**ماده هفتاد و یکم ـ** پیشنهاد وضع قانون از طرف حکومت یا ستره محکمه به هر یك از دو جرگه تقدیم شده میتواند.

**ماده هفتاد و دوم ـ** هرگاه پیشنهاد وضع قانون از طرف اعضای یکی از دو جرگه صورت بگیرد بعد از تائید ده نفر از اعضای جرگه ایکه پیشنهاد به آن ارائه شده در فهرست کار داخل میگردد.

هرگاه پیشنهاد وضع قانون حاوی تکلیف جدید یا تنقیص در عایدات دولت باشد بشرطی درفهرست کار داخل میشود که در متن پیشنهاد مدرك جبران، پیش بینی شده باشد این حکم بر پیشنهاد وضع قانون از طرف ستره محکمه تطبیق نمیشود.

**ماده هفتاد و سوم ـ** وقتی پیشنهاد وضع قانون درفهرست کار یکی از دو جرگه داخل گردید نخست به انجمن مربوط محول میگردد و بعد از آنکه انجمن نظر خود را در بارهٔ آن ابراز کرد طرح قانون با نظریه انجمن در جرگهٔ قرائت شده بحث روی آن صورت میگیرد. بعد در مورد هر ماده رای گرفته میشود وسپس طرح باردوم قرائت شده در بارهٔ رد یا تصویب آن بصورت یك کل رای گرفته میشود.

**ماده هفتاد و چارم ـ** هرگاه تصویب یك جرگه از طرف جرگه دیگر ردشود برای حل اختلاف هیئت مختلط به تعداد مساوی از اعضای هردو جرگه مطابق به احکام قانون دائر میگردد.

فیصله هیئت بعد از توشیخ پادشاه نافذ شمرده میشود. درصورتیکه هیئت مختلط نتواند اختلاف نظر را رفع کند تصویب ردشده بحساب میرود وهرگاه تصویب از

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوتصويب نامنلي بلل کيږي او که چرې داسې وي چه تصويب دولسي جرگې له خوا شوې وي نو دولسي جرگې نوې تقنيني دوره کولی شي چه هغه دغړو درا يو په اکثريت بيا ومني . دا تصويب بی له دې چه دمشرانو جرگې ته وړاندې شي دپاچا په ښکولو نافذ گڼل کيږي .

که چرې ددواړو جرگو ترمنځ اختلاف دمالي قوانينو دپيشنهاد په سروی نو که گډ هيئت ددغه اختلاف په لرې کولو بريالی نشی او ولسی جرگه کولی شی چه دغه پيشنهاد پخپله راتلونکی غونډه کښې دغړو درايو په اکثريت بياومني پيشنهاد بی له دې چه دمشرانو جرگې ته وښودل شي دپاچا په ښکوللو نافذ گڼل کيږي .

**پنځه اویاومه ماده ـ** ددولت بودجه دمشرانو جرگې له لارې د دغې جرگې دمشورتي نظريې سره يوځای اولسي جرگې ته وړاندې کيږي ـ دجرگې مشر بودجه اودمشرانو جرگې نظريات خپلې جرگې ته سپاري ، پس له هغه وربانندې په اولسي جرگه کښې غور او فيصله کيږي .

د افيصله بی له دې چه دمشرانو جرگې ته وښودې شي دپاچا په ښکوللو نافذه گڼل کيږي .

دحکومت دانکشافي پلان په باب داولسي جرگې خبرې اترې هم ددې حکم لاندې راځي .

کله که دځينو سببونو له کبله دبودجې تصويب دنوی مالي کال دشروع کيدو نه مخکښې ونه شو نو دکالنی بودجې تر تصويب پورې دزاړه کال دبودجې په شان چلند کيږي .

حکومت په دې مکلف دې چه دبودجې د پيشنهاد وړاندې کولو نه لږ ترلږه يو مياشت مخکښې د تير کال دبودجې غوڅ پريکړې حساب اولسي جرگې ته وړاندې کړي .

**شپږ اویاومه ماده ـ** که چيری دمشرانو جرگه د ولسی جرگې ديوې مصوبې په باب د رسيدو نه وروسته په شپږو مياشتو کښې خپله فيصله ونکړي نو دغه مصوبه منل شوې گڼل کيږي .

د رخصت دوره د دغې مودې په حساب کې نه راځي .

**اووه اویاومه ماده ـ** د شورې د رخصت يا انحلال په وخت کښې حکومت کولی شي چه دځلورشپيتمې مادې داولې فقرې په ساحه کښې دعاجلو چارو په لارې کولو دپاره تقنيني فرمانونه وباسي . دا فرمانونه دپاچا له ښکوللو وروسته دقانون حکم اخلي .

په کار دې چه دغه فرمانونه دشورا د اولومړنی غونډې له تاريخ نه په ديرشو ورځو کښې دننه شورې ته وړاندې شي او که شورائی ونه مني نو بيا اعتبار نه لري .

## پنځم فصل

# لويه جرگه

**اته اویاومه ماده ـ** لويه جرگه دشورې له غړو او ولاياتو د جرگو له مشرانو څخه جوړيږي .

طرف ولسی جرگه بعمل آمده باشد دوره تقنینیه جدید ولسی جرگه میتواند آنرا باکثریت آرای اعضاء تصویب کند این تصویب بدون ارائه به مشرانو جرگه بعد ازتوشیح پادشاه نافذ شمرده میشود .

هرگاه اختلاف دوجرگه درمورد طرح قوانین مالی باشد درصورتیکه هیئت مختلط به حل آن موفق نشود ولسی جرگه میتواند در اجلاس مابعد طرح مذکور را باکثریت ارای اعضاء تصویب نماید . طرح بدون ارائه به مشرانو جرگه بعد ازتوشیح پادشاه قانون شمرده میشود .

**ماده هفتادو پنجم ـ** بودجه دولت ازطریق مشرانو جرگه وتوام با نظریه مشورتی آن به ولسی جرگه تقدیم میشود . رئیس ولسی جرگه بودجه ونظریات مشرانو جرگه را به انجمن مربوط تفویض میکند . بعد بودجه با نظریات انجمن مربوط در ولسی جرگه مطالعه میشود ودربارهٔ آن تصمیم اتخاذ میگردد . این تصمیم بدون ارائه به مشرانو جرگه بعد از توشیح پادشاه نافذ شمرده میشود . این حکم درمورد مذاکرات ولسی جرگه راجع به پلان انکشافی حکومت نیز تطبیق میگردد .

هرگاه نظر به عللی تصویب بودجه قبل ازآغاز سال مالی صورت نگیرد تا تصویب بودجهٔ سال جدید بودجهٔ سال گذشته تطبیق میشود .

حکومت مکلف است اقلاً یکماه قبل ازتقدیم طرح بودجه حساب قطعی بودجه یک سال قبل را به ولسی جرگه تقدیم کند .

**ماده هفتادو ششم ـ** هرگاه مشرانو جرگه فیصلهٔ خودرا درمورد مصوبه ولسی جرگه درخلال مدت شش ماه ازتاریخ وصول آن صادر نکند مصوبه مذکور قبول شده بشمار میرود . درسنجش این مدت دوره تعطیل بحساب گرفته نمیشود .

**ماده هفتادو هفتم ـ** درهنگام تعطیل یا انحلال شوری حکومت میتواند درساحه مذکور فقره اول ماده شصت وچارم برای تنظیم امورعاجل فرامین تقنینی ترتیب کند . این فرامین بعد ازتوشیح پادشاه حکم قانون را حائز میشود .

فرامین تقنینی باید درخلال مدت سی روز ازتاریخ انعقاد نخستین جلسه شوری به شوری تقدیم گردد ودر صورتیکه ازطرف شوری رد شود ازاعتبار ساقط میگردد .

## فصل پنجم

# لویه جرگه

**ماده هفتادوهشتم ـ** لویه جرگه مرکب است ازاعضای شوری وروسای جرگه های ولایات .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دشوری دماتید وپه حالت کښې دهغې غړی دلویې جرگی د غړو په توگه خپل حیثیت دنوی‌شوری تر دا ټریدو پوری ساتی.

**نه‌اویاومه‌ماده-** دنولسمې، یوویشتمې اودوه‌ویشتمې مادی د حکمونو درعایت‌سره لویه جرگه په پاچائی فرمان دا ټریزی.

**اتیاومه‌ماده-** چه لویه جرگه روانه وی په غړوئی دیوپنځوسمې مادی حکم چلیزی.

**یواتیاومه‌ماده-** دلویې جرگی مباحثه به ښکاره وي مگر هلته‌چه حکومت یاد جرگی شل تنه غړی وغواړی چه جرگه دی پټه وی اولویه جرگه دا غوښتنه ومنی.

**دوه‌اتیاومه‌ماده-** دولسی جرگی مشراود هغه په غیاب کښې دمشرانو جرگی مشر دلویې جرگی ریاست پەغاړه لري.

لویه‌جرگه په لومړی غونډه کښې د خپلو غړو له منځه یوکس دمنشي په توگه ټاکی.

**دری‌اتیاومه‌ماده-** دهغه حالت نه پرته چه په دی اساسی قانون کښې څرگند یادشوی‌دی دلویې جرگی فیصله د حاضرو غړو درایو په‌اکثریت کیږی.

ددی‌اساسی قانون‌دحکمونودرعایت سره‌دلویې جرگی تگ لار دقانون له خوا ښودل کیږی.

**څلور اتیاومه ماده-** لویه جرگه هغه واك اختیار لری چه په دی اساسی قانون کښې ټاکل شوی دی.

شپږم فصل

# حکومت

**پنځه اتیاومه ماده-** دافغانستان حکومت له صدراعظم اووزیرانو څخه جوړدي. صدراعظم دحکومت‌مشراووزیران‌ئې غړي دی.

د وزیرانوشمیراودهغوی‌وظیفی په‌قانون کی ښودل کیږی.

**شپږاتیاومه‌ماده-** هرهغه څوك چه‌ددي اساسی قانون دحکمونو له مخه‌داولسی جرگی په‌غړیتوب‌باندې دغوره کیدو د پاره جوگه‌وي هغه دحکومت دِمشریاغړي په‌توگه‌ټاکل کیدي‌شي.

دحکومت مشربه افغان زیږیدلی وی.

دحکومت مشراوغړي ئې دشوری له غړواوله‌شوری نه بهرټاکل کیدی شی.

دشوري هرغړي چه دحکومت دمشریاغړي په توکه وټاکل شی په شوری کښې خپله چوکی له لاسه ورکوی.

**اووه‌اتیاومه‌ماده-** صدراعظم اووزیران دخپلو وظیفوچلولوپه موده کښې په نوروچارونه شی بوختیدلی.

**اته‌اتیاومه‌ماده -** دحکومت‌دمشراوغړودپاره‌مناسب‌معاش دقانون له مخه ټاکل کیږی.

درحالت‌انحلال شوری اعضای آن حیثیت خودرابه صفت اعضاي لویه جرگه تادایرشدن شوری جدید حفظ میکنند.

**ماده‌هفتادونهم-** بارعایت‌احکام موادنزدهم، بیست‌ویکم‌وبیست‌ودوم لویه‌جرگه‌توسط فرمان پادشاه دائرمیشود.

**ماده هشتادم-** درهنگام دائربودن‌لویه جرگه‌حکم مادهٔ پنجاه ویکم درمورد اعضای آن تطبیق میگردد.

**ماده‌هشتادویکم-** مباحثهٔ لویه جرگه‌علنی میباشد مگراینکه حکومت یا بیست نفر ازاعضاء سری بودن‌آنرادرخواست نماید ولویه جرگه‌این درخواست را بپذیرد.

**ماده‌هشتادودوم-** رئیس ولسی‌جرگه ودرغیاب اورئیس مشرانو جرگه ازجلسات لویه‌جرگه ریاست میکند.

لویه جرگه دراولین جلسه یك نفررااز بین اعضاي خود بحیث منشی انتخاب میکند.

**ماده‌هشتادوسوم-** جزدرموارد یکه‌حکم‌آن صریحاً دراین قانون اساسی ذکرگردیده تصمیم لویه جرگه باکثریت آرای اعضای حاضر اتخاذ میگردد.

بارعایت‌احکام این‌قانون‌اساسی، طرزالعمل لویه‌جرگه توسط قانون تنظیم میشود.

**ماده‌هشتادوچهارم-** لویه جرگه دارای صلاحیت هائی میباشدکه درین قانون اساسی تعیین گردیده است.

فصل‌ششم

# حکومت

**ماده هشتادوپنجم-** حکومت‌افغانستان‌متشکل‌است‌ازصدراعظم ووزراء. صدراعظم‌رئیس‌ووزراء اعضاي حکومت میباشند.

تعدادوزراء ووظائف شان‌توسط قانون تنظیم میگردد.

**ماده هشتادوششم.-** هرشخصیکه برطبق‌احکام این‌قانون اساسی اهلیت‌انتخاب شدن‌رابه‌عضویت‌اولسی جرگه‌دارا باشد میتواند بحیث رئیس یاعضوحکومت‌تعیین‌شود.

رئیس حکومت‌باید‌افغان‌تولدشده‌باشد. رئیس واعضای حکومت‌میتوانند ازاعضای شوری یاخارج‌ازان‌تعیین‌شوند.

هرعضوشوري که‌بحیث‌رئیس یاعضوحکومت‌تعیین‌شودعضویت خودرادرشوری ازدست میدهد.

**ماده‌هشتادوهفتم-** صدراعظم‌ووزراءنمیتواننددرمدت‌تصدی وظیفه‌به‌مشاغل دیگر اشتغال‌ورزند.

**ماده‌هشتادوهشتم-** برای رئیس‌واعضاي حکومت معاش مناسب توسط قانون‌تعیین‌میگردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نه‌اتیاومه‌ماده—** حکومت دهغه چا له خـواچـه دبا چا له پلو ه دصدراعظم په‌توګـه موظف شوې وې جوړیږي.
دحکومت غړې اوتګ لاره دصدراعظم له خوااولسی جرګی ته وړاندې کیږي اوجرګه دمباحثی نـه پس پـه حکومت باندې دباور په‌باب خپله فیصله کوې.

دباوردرائی دورکولو په حال کښی دحکومت دمشراو غړودتیا کلوپـه‌باب باچائی فرمان راوځی. وروسی صدرعظم دخپل حکومت تګ لاره‌دمشرانوجرګی ته‌وړاندې کوې .

**نوی‌یمه‌ماده—** کله که حکومت دصدراعظم دمړینی یااستعفا له کبله په داسی وخت کښی له منځه لاړشی چه‌شورې ماته وې نوپه باچائی فرمان نوې حکومت جوړیږي.

دنوې تقنینی دورې په لومړې سرکښی صدرا عظـم دخپل حکومت تګ لاره اودحکومت غړې اولسی جرګی ته وړپـیژنی اودباوردرایی غوښتنه کوې.

**یونوی‌یمه‌ماده—** حکومت‌په دی حالتونوکښی له‌منځه ځی :—
۱/چه صدراعظم استعفاءوکړې یاومړې.
۲/چه اولسی جرګه‌دحکومت نه خپل باوربیرته واخلی
۳/چه دحکومت په‌مشریادحکومت په‌اکثروغړوباندې ددری‌نوې‌یمی مادې‌دحکم‌سره‌سم‌دملی خیانت‌تورپورې‌شی .
٤/چه شورې‌ماته شی .
٥/چه دشورې تقنینی‌دوره‌سرته ورسیږي.
په‌وروستودووحالتونوکښی‌حکومت‌جوخت د نوې اولسی جرګی دلومړی‌غونډې‌سره‌سم له‌منځه‌ځی .
داستعغاپه صورت‌کښی حکومت هلته له‌منځه‌ځی‌چه‌پاچائی استعفاءومنی .

چه‌صدراعظـم ومـرې نودوزیرانوله ډلـی یـه‌یووزیـر دباچاپه‌امردصدراعظـم وظیفه دنوې‌حـکومت‌ترجوړیدو پورې په غاړه اخلی. په‌هغه‌صورت‌کښی چه حکومت د درې نوې یمی مادې دحکم‌سره‌سم دملی خیانت په تورله منځه لاړشی نوهرځوك چه‌دباچاله‌پلوه‌دصدراعظم‌په‌توګه‌وټاکل شی هغه دنوموړې تورپه‌باب دلوئی جرګی دفیصلی نه‌پس دولسی‌جرګی ترلومړی‌غونډې‌پورې‌دباوردرائی‌حاصاولونه مخکښی د صدراعظم وظیفی پرځای کوې . په نورو حالتونوکښی له‌منځه‌تللی حکومت دنوی حکومت ترجوړیدو پورې خپل کارجارې ساتی .

**دوه‌نوې‌یمه‌ماده—** له حکومت نه‌دباوردبیرته‌اخیستورایه بایدڅرګنده اوسماسمه‌وي‌دارایه‌دهغوحکومتونوپه‌باب‌چه‌ددې اساسی قانون له نافذکیدووروسته‌دلومړیودوه تقنینی دوروپـه‌مـوده کـې منځ ته راځی‌درایو ددوه‌ثلثوپه‌اکثریت‌اودوروسی‌حکومتونوپه باب د اولسی جـرکـې دغړودرایوپه‌اکـثریت‌صادریږي .

**دری‌نوی‌یمه‌ماده—** که‌چیرې له‌دریمی برخی نه د ولسی‌جرګی زیات غړې دملی خیانت په‌تور دصدراعظم یادحکومت دټولو یا زیاتوغړو د محاکمه کیدوغـوښتنه‌وکړې‌اوولسی جـرګه داغوښتنه‌ددوو برخوغړودرایوپه‌اکثریت ومنی نو حکومت له منځه ځی اولویه جرګه دڅیړونکی هیئت دټاکلودپاره جوړیږي . که چیرې لوئی جرګی دهمیت دراپورله کتنی

**ماده هشتادونهم—** حکومت توسط شخصیکه ازطرف پادشـاه بحیث صدراعظم موظف شده تشکیل میگردد.
اعضـاء وخطمشی حـکومت توسط صدراعظم به‌اولسی جرگه معرفی میشودوجرگه‌پس ازمباحثه راجع به اعتمادبرحکومت تصمیم میگیرد. درصورت‌صدورراءی‌اعتمادفرمان‌پادشاهی راجع به‌تعیین رئیس‌واعضاي‌حکومت صادرمیگردد.
سپس صدراعظم خط مشی‌حکومت رابـه مشرانوجرگه معرفی مینماید.

**ماده نودم—** هرگاه‌حکومت به‌علت‌فوت یااستعفای‌صدراعظم‌درهنگام انحلال شوری‌ازبین برودحکومت‌جدیدبفرمان‌پادشاه‌تعیین میشود. دراغازدوره‌ء تقنینیه‌جدید صدراعظم‌اعضای‌حکومت وخـط‌مشی‌انـرابه‌ولسی جـرگـه معرفـی‌وراءی اعتمـاد مطالبه‌میکند.

**ماده نودویکم—** حکومت‌دراحوال آتی ازبین‌میرود :
۱/درحالت استعفاء یافوت‌صدراعظم
۲/ درحالت سلب اعتماداولسی جرگه‌ازحکومت.
۳/ درحالت اتهام رئیس‌یاتمـام اعضـاي حکومت‌بجرم خیانت ملی‌مطابق‌به حکم‌ماده نودوسوم .
٤/درحالت انحلال‌شوری.
٥/درحالت ختم دوره‌ء تقنینیه.
دردوحالت‌اخیرحکومت توام با اولین جلسه لوی جـرگـه ازبین می رود.
درحالت استعفای‌صدراعظم‌پس‌ازمنظوری‌استعفاء ازطرف پادشاه حکومت ازبین‌میرود :
درصورت‌فوت‌صدراعظم‌یك‌نفرازوزراء‌بامرپادشاه‌وظائف صدراعظم‌راتاتشکیل‌حکومت‌جدید اجراءمیکند.
درصورتیکه‌حکومت‌به‌علت‌اتهام‌بجرم‌خیانت ملی مطابق بحکم‌ماده‌نودوسوم‌ازبین‌برودشخصیکه‌ازطرف‌پادشاه‌بحیث صدراعظم تعیین میشودمیتواندتااولین جلسه‌ولسی جرگه به تعقیب تصمیم لویه‌جرگه‌درمورداتهام‌مذکورـ‌قبل‌ازحصول رأی‌اعتماد وظائف‌صدراعظم‌را اجراءنماید.
درسائراحوال حکومتیکه‌ازبین رفته تاتشکیل حکومت جدید بوظیفهٔ خوددوام‌میدهد

**مادهٔ‌نودودوم—** راءی سلب‌اعتمادازحکومت‌بایدصریح‌ومستقیم باشد این رای‌درمـورد حکوماتیکه‌درخلال دودورهٔ‌تقنینی‌اول به‌تعقیب نفاذاین‌قانون‌اساسی‌بوجودمی‌آیندبه‌اکثریت‌دوثلث‌آرأ‌ودرمورد حکـومت‌های‌ما بعدبه‌اکثریت‌آرای‌اعضای‌اولسی جرگه‌صادر می گردد.

**مادهٔ‌نودوسوم—** هـرگـاه‌بیش‌ازیك‌ثلث‌اعضای‌اولسی جرگه‌محاکمه صدراعظم‌یاتمام‌یااکثراعضای حکومت رابراساس اتهـام بجرم‌خیانت‌ملی‌تقاضانمایدواولسی جرگه‌این‌تقاضارا باکثریت دوثلث‌اعضأتصویب‌کندحکومت‌سقوط‌مینمایدولویه‌جرگه برای تعیین هیئت‌تحقیق دایرمیگردد. اگربعد ازمطالعه راپورهیئت

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروستــه ددوو بــرخــوغــړودرايــوپــه اكــثريــت دمـحاكــمی اجراءلازمه وګڼله نود اولسی جرګی يوغړي تهوظيفه وركوي چه په تورن باندې په ستره محكمه كښی دعوې سوره كاندې .

دپورتنی فقرې حكم په هغه حالت كښی هم چايږې چه دملی خيانت تورپه يوه يا څوتنووزيرانوچه شميرئی دحكومت دغړو له نيمائی څخه زيات نه وی پورې شوی وی ددې تورپه نتيجه كښې دتورن لاس له كاره ويستل كيږې مګرحكومت له منځه نه ځی .

**څلورنوي يمه ماده** ــ ددې اساسی قانون اونوروقوانينو دحكمونــو عملی كول ـ دمحكمودقطعی پريكړو عملی كول . دعمومی نظم اوامن ساتلودپاره ضروري انتظام كول ، ددولت دمالــی حالت سمون اوعامه شته منی ساتل . دخلكواجتماعی . ثقافتی او اقتصادي حالت ښه كول دخپلواكی حفـاظـت . دسيمی له تماميت څخه دفاع اوپه بين المللی ټولنه كښی د افغانستان دملی ښيګړو اوحيثيت ساتنه دحكومت وظيفه ده

حكومت دخپلو وظيفو دسمون دپاره دقانـون پـربـنيـاد مقررات جوړوي ـ دامقررات بايدچه دهيڅ قانون دعبارت اوروح سره تناقض ونه لري .

**پنځه نوي يمه ماده** ــ دوزيرانو ټولنه دحكومت دسياست لوئی ليكی تاكی اوهغه مقررات تصويبوي چه حكومت ئی د جوړولو واك اختيار لري .

صدراعظم دوزيرانودټولنی مشرتوب كوی دحكـومت دفعاليت اداره اولارښودنه كوي اوپه اجرا اتـو كښـی يـی يورنـګی راولی .

دباچا اوشورې سره دحكومت درابطی ساتل هـم دصدراعظم وظيفه ده.

وزيران خپلی وظيفی داداری يو كونو دمشرانواو دحكومت دغړو په توګه دصدراعظم دامراولارښودنی لاندې په هغه چوكاټ كښی دننه پرځاې كوي چه ددې اساسی قانون اوقوانينو ټاكلی دي

**شپږنوي يمه ماده** ــ صدراعظم اووزيران دحكومت دعمومی سياست له كبله په شريكه اودخپلو ځانګړو وظيفو له بابته ځانله اولسی جرګی مسئول دی .

صدرا عظم اووزيران دحكومت دهغوچاروپه باب هم مسئول دی چه دهغودپاره ددې اساسی قـانـون دحـكمونـو مطابق پاچا ئی فرمان اخلی .

## اووم فصل

# قضاء

**اووه نوي يمه ماده** ــ قضائيه قوه ددولت يوخپلواك ركن دې او خپلی وظيفی دتقنينيه اواجرائيه قووپـه لړ كښی پرځای كوی.

**اتــه نوي يمه ماده** ــ قضائيه قوه ديوي ستري محكمی او نورو محكمونه جوړيږی چه شمارئی په قانون كښی ښودل كيږی.

لويه جرګه با كثريت دوثلث اعضـاء اجـرای محـاكمه رالازم بداند يكنفرازʼا عضـای اولسی جرګه راموظف مينمايد تاعليه متهم درستره محكمه دعوی اقامه كند.

حكم فقره فوق درحالتی نيز تطبيق ميشود كه اتهام خيانت ملی به يك ياچند نفروزير كه تعدادشان از نصف اعضای حكومت بيشتر نباشد متوجـه گردد . درنتيجه اين اتهـام متهم از وظيفه سبكدوش ميشود ولی حكومت سقوط نميكند.

**ماده نودوچارم** ــ تعميل احكام اين قانون اساسی وتمام قوانين ، تعميل فيصله های قطعی محاكم ، اتخاذ تدابير لازم جهت برقراری نظم وامن عامه ، تنظيم وضع مالی دولت وحفاظت دارائی عامه انكشاف وضع اجـتماعـی ـ فرهنگی و اقتصادي مردم ، حفظ استقلال ، دفاع از تماميت ساحه ، صيانت منافع وحثيت افغانستان درجـامعهٔ بين المللی وظيفه حكومت ميباشد. حكومت بـرای تنظيم وظائف خود براساس قوانيين مقررات وضع ميكند . اين مقررات بايدمناقص نص يا روح هيچ قانون نباشد.

**ماده نودوپنجم** ــ مجلس وزراء خطوط اساسی سياست حكومت را تعيين ميكندومقرراتی راكه وضع آن از صـلاحيت حـكومت ميباشد تصويب مينمايد.

صدراعظم ازمجلس وزراء رياست می نمايد ، فعاليت حكومت رااداره ورهنمونی ميكندودراجراات آن همآهنگی راتأمين مينمايد .

حفظ رابطه حكومت با پادشاه وشوری نيز وظيفهٔ صدراعظم ميباشد .

وزراوظائف خودرا بحيث امرين و احد های اداری و بحيث اعضای حكومت تحت امرورهنمائی صدراعظم درداخل حدوديكه اين قانون اساسی وقوانين تعيين ميكند اجرامينمايد .

**ماده نودوششم** ــ صدراعظم ووزراازسياست عمومی حكومت مشتركاً وازوظائف مشخصهٔ خودمنفرداً نزداولسی جرگه مسئوليت دارند .

صدراعظم ووزراازآن اعمال حكومت كه دربارهٔ آن بر طبق احكام اين قانون اساسی فرمان پادشاهی راحاصل ميكنند نيز مسئول ميباشند .

## فصل هفتم

# قضاء

**ماده نودوهفتم** قوه قضائيه يك ركن مستقل دولت است ووظايف خودرا در رديف قوه تقنينيه وقوه اجرائيه انجام ميدهد .

**ماده نودوهشتم** قوه قضائيه مركب است ازيك ستره محكمه ومحاكم ديگری كه تعداد آن توسط قانون تعيين ميگردد .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قضائیه قوی پــه واك اختیار کښی پــه هغــو دعوو غورسی پرته ده چه پکښی حقیقی یاحکمی اشخاص ـــ که څه هم دولت وی دمدعی یامدعی علیه حیثیت لري او دقضاءپه وړاندی دقانون دحکمونو سره سم دا ئری شی .

هیڅ قانون په هیڅ حالت کښی دا نه شی کولی چه یوه قضیه یا یوه ساحه ددولت دقضائی قوی د واك اختیار له کربنی څخه پــه هغه ډول چه په دی فصل کښی ئی بریدونه معلوم شوی وباسی اوبل مقام ته ئی وسپاري.

داحکم دعسکری محکمو دجوړیدومخه نه نیسی . خو دا محکمی به یوازی دهغو جرمونو دپاره وی چه دافغانستان له اردو سره اړه لري دعسکری محکمو تشکیل او واك اختیار په قانون کښی ښودل کیږي.

نه نوی یمه ماده ـــ قاضیان دقاضی القضات پــه پیشنهاد دباچا تــه له خوا ټاکل کیږی .

که چیری یوقاضی یوجرم وکړی نوستره محکمه دده پــه حال غور کوی او دده ددفاع له اوریدو نه پس باچا ته دده دعزل پیشنهادو ړاندی کولی شی .

هر کله چه دباچا له خوادغه پیشنهادملاتړ وشی نوقاضی دخپلی وظیفی نه معزولیږي. دقاضیانو بدلول ، اوچتول پوښتیدل اودتقاعد پیشنهادئی دقانون دحکمونو سره سم دستری محکمی په واك اختیار کښی دی.

دقاضیانو دپاره د قانون له پلوه مناسب معاش ټاکل کیږی.

قاضیان نه شی کولی چه دخپلو وظیفو په وخت کښی په نورو چارو بوخت شی .

سلمه ماده ـــ دافغانستان پــه محکمو کښی محاکمه په ښکاره ډول کیږی اودقانون دحکمونو سره سم هرڅوك دور تلو حق لري.

محکمه کولی شی چه په هغو ګوښو حالاتو کښی چه قانون ښودلی دی پټی غونډی وکړی خو دحکم اورول به هرومرو ښکاره وی .

محکمی مکلفی دي چه دخپل ورکړی حکم سره یوځای به پــه فیصلــه کښــی دحــکم سببونــه هم څرګندوی.

یوسل ویوه ماده ـ دمحکمو دټولو قطعی پریکړو عملی کول واجب دی خو دچادمرګ دحکم پــه حــالت کښی دتعمیل دپاره دباچا ښکوالل شرط دی.

یوسل ودوهمه ماده ـ محکمی چه په کومو پیښو باندې غورسی کوی په هغو کښې ددې اساسی قانون او د دولت دقوانینو حکمونه پرځای کوی که د غورسی لاندې پیښو دیوی پیښی پــه باب په اساسی قانون اوددولت په قوانینو کښی کوم حکم نه وی نومحکمی داسلامی شریعت دحنفی مذهب دکلی اساسونو له مخه په هغه چوکاټ کښی دننه چه دی اساسی قانون ښودلی دی په دغه باب یوداسی حکم را باسی چه ددوی په نظر کښی څومره چه ممکنه وی عدالت ترټولو په ښه توګه لاس ته راوړی.

صلاحیت قوه قضائیه شامل رسیدگی به تمام دعاوی ایست که در آن اشخاص حقیقی یا حکمی بشمول دولت به صفت مدعی یا مدعی علیه قرار گرفته ودرپیشگاه آن مطابق بــه احکام قانون اقامــه شود .

هیچ قانون نمیتواند در هیچ حالت قضیه یا ساحه ایرا از دائره صلاحیت قوه قضا ئیه دولت به نحویکه درین فصل تحدید شده خارج بسازد وبمقام دیگری تفویض کـند این حکم مانع تشکیل محاکم عسکری نمیگردد ولی ساحه این نوع محاکم بجرایم مربوط باردوی افغانستان منحصر میباشد . تشکیل وصلاحیت محاکم عسکری توسط قـانـون تنظیم میشود .

ماده نودونهم ـ قضات بــه پیشنهاد قاضی القضــات ازطـرف پادشاه تعیین میگردند. هرگاه یکنفر قاضی مرتکب جرمــی شود ستره محکمه به حالت قاضی رسیدگی کــرده بعــداز استماع دفاع او پیشنهاد عزلش را به پادشاه تقـدیم کـرده میتواند درصورتیکه پیشنهاد مذکور ازطرف پادشاه تـائید گردد قاضی از وظیــفه عزل مــیشود. تبدیل ـ ترفیع ـ مواخذه وپیشنهاد تقاعد قضات مطابق به احکام قانون از صلاحیت ستره محکمه میباشد.

برای قضات معاش مناسب تـوسط قانــون تعیین میــگردد.

قضات نمی توانند درمدت تصدی وظـیفـه به مشاغـل دیـگری اشتغال ورزند .

ماده صدم ـ درمحاکم افغانستان محاکمه بصورت علنی اجراءمیشود وهرکس حق حضور رادران مطابق به احکام قانون دارد. محکمه میتواند درحالت استثنائی که درقانون تصریح گردیده باشد جلسات سری دائر کنند. ولی اعلام حکم باید بهرحال علناً صورت بگیرد .

محاکم مکلفند اسباب حکمی را که صــادر میــکنند درفیصله خود ذکر نمایند.

ماده یکصدویکم ـ تمام فیصله های قطعی محاکم واجب الــتعمیــل است مگر در حالت حکم بمرك شخص که تعمیل حکم محکمه مشروط به توشیح پادشاه میباشد .

ماده یکصدودوم ـ محاکم درقضایای مورد رسیدگی خود احــکام این قانون اساسی وقوانین دولت راتطبیق میکـنند. هرگاه برای قضیه ای ازقضایای مورد رسیدگی درقانون اساسی وقوانین دولت حکمی موجود نباشد محاکم به پیروی از اساسات کلی فقه حنفی شریعت اسلام درداخل حدودیکه این قانون اساسی وضع نمـوده درچنیــن احــوال حــکمــی صـادر میکنند که درنظرشان عدالت را به بهترین صورت ممکن تأمین نماید .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوسل دریمه ماده** ــ دجــرمــونــو څیړنه دقانون دحکمونو سره سم د مدعی العموم له خوا چــه ددولت په اجرائیه قوه پوری تړلی دي کیږي.

**یوسل څلورمه ماده** ــ ددي اساسی قــانــون دحکمونــو درعــایت سره هغه قاعدی چه دمحکمو داجــرا آتــو او تشکیلاتــو او دقــاضیانو له چاروسره اړه لري، دقانون له پلوه سمیږی. ددی قوانینو لوی هدف دادی چه په قضائی مرافقو تشکیلاتو، واك اختیار او دمحاکمي دعمل په لارو کښی یووالی راشی.

**یوسل وپنځمه ماده** ــ ستــره محکمه له نهو غړو جوړیږی چه ټول دباچا له پلوه ټاکل کیږي.

باچا دستری محکمی غړی دداسی خلکو له منــځه غــوره کوی چه دغه صفتونه ولري:

۱ــ دعمر پنځه دیرش کاله ئی پوره کړی وی.

۲ــ د شپږ څلویښتمی مادی په حکم برابر دشوری په غړیتوب باندي دغوره کیدو جوگه وي.

۳ــ دحقوقو په علم ــ دحقوقو په ملی هدفونو او د افغانستان په حقوقی نظام باندی په پوره اندازه پوه وی.

باچا دستری محکمی یوغړی چه عمرئی له څلویښتو کم او له شپیتو زیات نه وی دقاضی القضات په حیث ټاکی

باچا کولی شی چه دقاضی القضات او ستری محکمی دغړو په مقرری باندی دمقرری له وخته هر لس کاله پس نــوی نظر وکړی ــ ددی حکم او دیو سلو شپږمی مادی دحکم نه پرته په بل هیڅ ډول قاضی القضات او دستری محکمی غړی له خپلو وظیفو نه ویستل کیدلــی نه شــی.

دهغه حالت نه غیر چه په یوسل وشپږمه ماده کښی بیان شوي دي قاضی القضات اودستري محکمی غــړی دخدمت ددوري له ختمیدو نه وروسته تــر عمــره پوری دخــدمت ددوری له ټولو مالی ښیگړو نه فائده اخلی .

دخدمت ددوري لــه ختمیدو نه وروسته قاضی القضات اودستري محکمی غړي دحکومت مشر توب یـــا غړیتـو ب اودولت ماموریت نه شی کولاي .

قاضی القضات اودستري محکمی غړي نه شی کــولاي چه د وظیفی دچلولو په موده کښی یا تــرهغې وروسته په سیاسی گوندو نو کښی گډون وکړي .

**یوسل وشپږمه ماده** ــ که چېرې د اولسی جرگی له دریمی برخی نه زیات غړي دوظیفی له اجرانه د را پور ته شوي جرم پــه تــور دقاضی القضات یا دستری محکمی دیوه یا څو تنو غړو دمحاکمی غوښتنه وکړی او جرگه د دوو برخو غړو درایو په اکثریت داغوښتنه ومنی نودتورن لاس له کاره ویستل کــیږي او دځیرونکی ډلګی دټاکلو دپاره لویه جرگه جوړیږي ــ که چیري لویه جرگه دډلگی دراپور له کتنی وروسته ددوو برخو غړو دریو په اکثریت دتورن محاکمه لازمه وبولی نــویــو غړي په تورن باندي ددعوي سورولو او داتو تنو یوه ډلګــۍ

**مادیکصدوسوم** ــ تحقیق جرایــم ازطرف مدعی العموم که جزء قوه اجرائیه دولت است مطابق به احکام قانون صورت میگیرد.

**ماده یکصدوچهارم** ــ بارعایت احکام این قانون اساسی قواعد مــربوط بــه تشــکیــــلات، و اجـــراآت مـــحـــاکــم وامور مربـوط بـــه قضـــات توسط قـــانون تنظیم میگردد . هـدف عمـــده این قوانین توحید مرافق قضائی و توحید تشکیلات، صلاحیت وطرز العمل محاکمه میباشد .

**ماده یکصدوپنجم** ــ ستره محکمه مرکبست از نه عضو که از طـــرف پادشاه تعیین میشود .

پادشاه اعضای ستره محکمه را از بین اشخاص تعیین میکند که دارای اوصاف ذیل باشند :

۱ــ سی و پنج سالگی را تکمیل کرده باشد .

۲ــ اهلیت انتخاب شدن بعضویت شوری را مطابــق به حکم ماده چهل وششم داشته باشد .

۳ــ ازعلم حقوق ــ اهداف ملی ــ حقوق و نظام حقوقی افغانستان آگاهی کافی داشته باشد .

پادشاه یکنفر ازجملهٔ اعضای ستره محکمه را که سن آن از چهل کمتر و از شصت زیادتر نباشد به حیث قاضی القضات تعیین می نماید.

پادشاه میتواند برتعیین قاضی القضات و اعــضــای ستره محکمه بعد از مرور هرده سال از تاریخ تعیین شان بوظایف مذکور تجدید نظر بنماید. بارعــایت این حــکم وحکم ماده یکصدوششم قاضی القضات و اعضای ستره محکمه به هیچ وسیلــه دیگر از وظیفه شان برطرف نمیشوند .

باستثنای حالت مندرج ماده یکصدوششم قاضی القضات واعضای ستره محکمه بعد از ختم دوره خدمت برای بقیه مدت حیات از تمام امتیازات مــالی دوره خــدمت شان مستفید میشوند.

قاضی القضات و اعضای ستره محکمه نمیتوانند بعد از ختم دورهٔ خدمت شان رئیس یا اعضای حکومت، عضو شوری یا مامور دولت باشند.

قاضی القضات واعضای ستره محکمه نمیتوا نـنـد در مدت تصدی وظیفه و بعد از آن در احزاب سیاسی شمولیت ورزند

**ماده یکصدوششم** هرگاه بیش از یک ثلث اعضای اولسی جرگه محاکمه قاضی القضات یا یك یا چند عضو ستره محکمه را بـراساس اتهام بجرم ناشی از اجرای وظیفه تقاضا نماید وجـرگه مذکور این تقاضا را باکثریت دو ثلث اعضــاء تصویب کند متهم از وظیفه سبکدوش میشود و لویه جرگه بـــرای تعیین هیئت تحقیق دائر میگردد. هرگاه لویه جرگه بعد از مطالعه راپور هیئت باکثریت دو ثلث اعضاء محاکمه متهم را لازم بداند از بین اعضا یکنفر را جهت اقامه دعوی و هیئتی را مرکب از هشت نفر برای اجرای محاکمه تعیین میکند .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمحاکمی دچلولودپاره ټاکی ـ داډلګی دمشرانوجرګی دمشرپه مشرتوب دهغی جزائی محاکمی دتګ لارې سره سم تورن محاکمه کوي چه په ستره محکمه کښی پرې عمل کیږي اوکه چیرې په تورن باندې جرم ثابت شی نو دی دوظیفی نه معزولوی اوسزا ورکوی .

**یوسل واوومه ماده** ـ ستره محکمه دافغانستان نهائی قضائی مرجع ده .

ستره محکمه ددې اساسی قانون اوقوانینو دحکمونو سره سم دمحکمو اجراات او تشکیلات اوددولت قضائی چارې سموی ـ ستره محکمه دمحکمود اداری چارو دسمون دپاره ضروری لارې چارې برابروی .

د قضائی قوې بودجه دقاضی القضات له خوا دحکومت په سلا جوړیږي اودستری محکمی له منلو وروسته ددولت دبودجی دیوې برخی په څیر دحکومت په لاس شورې ته وړاندې کیږي .

دقضائی قوې دبودجی دلګولو واك اختیار دسترې محکمی په لاس کښی دې .

دقضائی قوې دمامورینو اوټولو اداری کارکوونکو په باب د دولت د مامورینو اوټولو اداری کارکوونکو دقوانینو حکمونه نافذ دی خودوی ټاکل ـ اوچتول ـ عزل ـ پوښتیدل او تقاعد ورکول دقانون سره سم دسترې محکمی له پلوه کیږي .

## اتم فصل

# اداره

**یوسل واتمه ماده** ـ دافغانستان اداره ددې فصل دحکمونو سره سم دمرکزیت په اساس ولاړه ده ـ مرکزی اداره دقانون له مخی په یوشمیر اداری ـ یوکونو ـ باندې ویشله کیږی چه د هریوه مشری دیوو وزیر په لاس کښی ده .

دسیمه ایزې اداری یوك ولایت دې ـ دولایتونو شمیر سیمه ، برخی او تشکیلات دقانون له مخه ښودل کیږي .

**یوسل ونهمه ماده** ـ په هرولایت کښی یوه د ولایت جرګه جوړیږي

دولایت دجرګی غړې دآزاد واوعاموسماسمو اوپټو انتخاباتو له لارې دولایت دخلکو له خوا غوره کیږي .

دولایت جرګه دخپلو غړو له منځه یوتن دمشرپه توګه غوره کوی.

دولایت جرګه لکه چه په قانون کښی ښودل کیږي ددولت دانکشافی هدفونو په پوره کولو کښی برخه اخلی اوهم داجرګه دولایت دچارو دښه کیدو اودولایت دعمومی اوضاعو د انکشاف دپاره دولایت حکومت ته سلاورکوی .

دولایت جرګه خپلی وظیفی دولایت د حکومت په ملګرتیا سرته رسوي .

دولایت جرګی دغړو لپاره دقانون له پلوه مناسب معاش ټاکل کیږي .

این هیئت تحت ریاست رئیس مشرانو جرگه متهم را مطابق به طرز العمل محاکمه جزائی که در ستره محکمه تطبیق میگردد محاکمه می نماید و درصورتیکه جرم متهم ثابت شود اوراز وظیفه عزل کرده به جزاء محکوم میسازد.

**ماده یکصدوهفتم** ستره محکمه مرجع نهای قضائی افغانستان است .

ستره محکمه تشکیلات و اجراآت محاکم و امور قضائی دولت را مطابق به احکام این قانون اساسی و قوانین تنظیم مینماید .

ستره محکمه تدابیر لازم را جهت تنظیم امور اداری محاکم اتخاذ میکند .

بودجه قوهٔ قضائیه ازطرف قاضی القضات بمشوره حکومت ترتیب گردیده بعدازموافقه ستره محکمه بحیث یك جزء بودجه دولت توسط حکومت به شوری تقدیم میشود.

تطبیق بودجه قوه قضائیه از صلاحیت ستره محکمه میباشد

درمورد مامورین وسائرکارکنان اداری قوه قضائیه احکام قوانین مربوط به مامورین وسائرکارکنان اداری دولت نافذ میباشد . ولی تعیین ـ ترفیع ـ عزل ـ مواخذه و تقاعد شان توسط ستره محکمه بروفق قانون صورت میگیرد .

## فصل هشتم

# اداره

**ماده یکصدوهشتم** ـ ادارهٔ افغانستان براصل مرکزیت مطابق به احکام این فصل استوار است .

اداره مرکزی بموجب قانون بیك عده واحدهای اداری منقسم میگردد که درراس هرکدام آن یکنفر وزیر قرارد ارد.

واحد اداره محلی ولایت است . تعداد ، ساحه اجزا و تشکیلات ولایت توسط قانون تنظیم میگردد .

**مآده یکصدونهم** ـ درهرولایت یك ولایت جرگه تشکیل میشود .

اعضای ولایت جرگه توسط انتخابات آزاد ـ عمومی ـ مستقیم وسری ازطرف ساکنین ولایت انتخاب میگردد .

ولایت جرگه یکنفر ازاعضای خودرا بحیث رئیس انتخاب مینماید .

ولایت جرگه درتامین اهداف انکشافی دولت بنحویکه درقوانین تصریح میگردد سهم میگیرد. همچنین این جرگه برای بهبود امور وانکشاف اوضاع عمومی ولایت به حکومت ولایت مشوره میدهد .

ولایت جرگه وظائف خود را به همکاری حکومت ولایت اجرا منماید .

برای اعضای ولایت جرگه معاش مناسب توسط قانون تعیین میگردد.

**یوسل ولسمه ماده** — دسیمه ایزې اداری دسمون دپاره داسی قوانین جوړیږی چه په هغو کښی ددې فصل دحکمونو رعایت کیږی ددی قوانینو په مقصدونو کښی یوداهم دی چه داقسم جرگی ترکلیو پورې وغځیږې اوپه سیمه ایزه اداره کښی ددوی دورځ په ورځ زیاتیدونکی گډون مطلب پوره شی .

**یوسل ویوولسمه ماده** — دښاری چارو دادارې دپاره ښاروالی جوړیږی دښاروالیو ټولنی دآزادو — عامو — پټو او سماسوا انتخاباتو له لارې جوړیږی .

ددې فصل دحکمونو درعایت سره په ښاروالی پورې تړلی چارې دقانون له پلوه سمیږی .

**یوسل ودولسمه ماده** — اداری وظیفی داداری مامورینو اونورو کارکوونکو په لاس پرځای کیږی

دمامورینو اونورو اداری کارکوونکو دپاره دقانون له مخه مناسب معاش تاکل کیږی .

د مامورینو او نورو اداری کارکوونکو حقونه او وظیفی په قانون کښی ښودل کیږی .

## نهم فصل

# داضطرار حالت

**یوسل ودیارلسمه ماده** — که چیری دجنگ — د جنگ دخطر دسختی الی گولی یا بل دغسی حالت له کبله چه مملکت ته خطره راپورته کړی او دخپلواك او ملی ژوند ساتنه په هغه لارچه دی اساسی قانون ښودلی ده ناممکنه شی نو دباچا له خوا د اضطرار حالت اعلامیږی

که دا ضطرار حالت له دریو میاشتو نه اوږدشی نو دهغه دجاری ساتلو د پاره دلویی جرگی منه شرط ده .

**یوسل وڅوارلسمه ماده** — داضطرار په حالت کښی باچا اختیارلری چه دشورې ټول یا ځینې واکونه دحکومت په لاس کښی ورکړی .

**یوسل و پنځلسمه ماده** — د اضطرار په حالت کښی حکومت کولی شی چه دستری محکمی دموافقی اخستلو نه وروسته داساسی قانون د لاندنیو حکمونو چلند دتقنینی فرمانونو له مخه یا وځنډوی اویا پری قیدونه ولگوی :

۱ـ د اتو یشتمی مادی دلمړی فقری حکم .
۲ـ دنهه ویشتمی مادی ددریمی فقری حکم .
۳ـ ددیرشمی مادی د دویمی فقری حکم .
۴ـ ددوه دیرشمی مادی د لومړی فقری حکم .
۵ـ ددرې دیرشمی مادی د لومړی فقری حکم .

**یوسل وشپاړسمه ماده** — د اضطرار په حالت کښی باچا پایتخت دکابل دښار نه بل ځای ته موقتاً لیږدولی شی .

**یوسل اوولسمه ماده** — که چیری دولسی جرگی تقنینی دوره یا د مشرانو جرگی دځینو غړو خدمت دوره دا ضطرار د حالت په موده کښی ختمه شی باچا کولی شی چه نوی

**ماده یکصد و دهم** — برای تنظیم امور مربوط به اداره محلی قوانین وضع میگردد که درآن اصول مندرج این فصل رعایت میشود.

ازجمله اهداف این قوانین تعمیم جرگه ها تا درجه قری و تأمین اشتراك روزافزون آن دراداره محلی میباشد .

**ماده یکصد و یازدهم** — برای اداره امور شهری ښاروالی ها تشکیل میشود. مجالس ښاروالی ازطریق انتخابات آزاد عمومی مستقیم وسری تاسیس میگردد . بارعایت احکام این فصل امور مربوط به ښاروالی ها توسط قانون تنظیم میگردد .

**ماده یکصد و دوازدهم** — وظائف اداره توسط مامورین وسایر کارکنان اداری اجرا میشود .

برای مامورین وسائر کارکنان اداری معاش مناسب توسط قانون تعیین میگردد .

حقوق و وظائف مامورین وسائر کارکنان اداری توسط قانون تنظیم میشود.

## فصل نهم

# حالت اضطرار

**ماده یکصد و سیزدهم** — هرگاه بعلت حرب، خطر حرب، اغتشاش وخیم یا حالت مماثلی که مملکت را باخطر مواجعه سازد حفظ استقلال وحیات ملی از مجرایکه درقانون اساسی تعیین شده ناممکن گردد حالت اضطرار ازطرف پادشاه اعلان میشود .

هرگاه حالت اضطرار بیش ازسه ماه دوام نماید برای تمدید آن موافقت لویه جرگه شرط است .

**ماده یکصد و چاردهم** — درحالت اضطرار پادشاه میتواند تمام یا بعضی صلاحیت های شوری رابحکومت انتقال دهد .

**ماده یکصد و پانزدهم** — درحالت اضطرار حکومت میتواند بعد از موافقه ستره محکمه تنفیذ احکام ذیل این قانون اساسی را توسط فرامین تقنینی معطل سازد یا بران قیودی وضع نماید:

۱/حکم فقره اول ماده بیست وهشتم
۲/حکم فقره سوم ماده بیست ونهم
۳/حکم فقره دوم ماده سیم
۴/حکم فقره اول ماده سی ودوم
۵/ حکم فقره اول ماده سی وسوم

**ماده یکصد و شانزدهم** — درحالت اضطرار پادشاه میتواند پایتخت را به محل دیگری غیر ازشهر کابل موقتاً انتقال دهد .

**ماده یکصد و هفدهم** — هرگاه دوره تقنینیه اولسی جرگه یاد وره خدمت یك قسمت ازاعضای مشرانو جرگه دراثنای حالت اضطرار ختم شود پادشاه میتواند اجرای انتخابات جدید راملتوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتخابات وځنډوی اوداولسی جرگی تقنینی دوره یا دمشرانوجرگی دنوموړوغړود خدمت دوره د اضطرار حالت ترپایه اوزده کا بندی.نوی انتخابات د اضطرار دحالت پهختم پسی سملاسی اجراء کیږی .

**یوسلواتلسمهماده**ـ د اضطرارپه حالت کښی اساسی قانون نه تعدیلیږی .

**یوسلونولسمهماده**ـ داضطراردحالت لهختمیدوسره جوخت ټول هغه اقدامات چه دیوسلوپنځلسمی مادی لهمخه شوی وی له اعتباره پریوځی . هغه اقدامات چهدیوسل وڅوارلسمی مادی له مخه شوی وي داضطراردحالت له ختمیدو وروسته دشوری دلومړی غونډی له نیټی نه په یوه میاشت کښی دننه شوری ته وړاندی کیږی اوکه چیری شوری هغه ونه منی نوله اعتباره غورځیږی .

که چیری داضطرار په حالت کښی داسی یو حکومت جوړشوی وی چه دیوسلوڅوارلسمی مادی لهمخه یی داولسی جرگی دباوررایه نهوی اخیستی نوداضطرار دحالت پهختمیدو پسی سملاسی په حکومت باندی دباور درائی موضوع په اولسی جرگه کښی دبحث لاندی راځی او فیصله وربا ندی کیږی

لسم فصل

## تعدیل

**یوسل وشلمه ماده**ـ ددی اساسی قانون د حکمونوسره سم داسلام دپیروی اصل اودمشروطه باچائی اساس او په اتمه ماده کښی راغلی ارزښتونه تعدیل کیدلی نه شی .

داساسی قانون نوری برخی دوزیرانو دټولنی یا دولسی جرگی یا مشرانو جرگی د دریمی برخی غړو په پیشنهاددی فصل دحکمونوسره سم تعدیل کیدی شی .

**یوسل ویوویشتمهماده**ـ دتعدیل پیشنهاد لویه جرگه گوري اوکه چیری دلویی جرگی دغړواکثریت د تعدیل ضروت ومنی نودخپلو غړو لهمنځه یوهډلگی دتعدیل د طرحی تیارولو دپاره ټاکی ـداډلگی دوزیرانو د ټولنی او ستری محکمی پهسلاطرح جوړوي اولویی جرگی ته ئی وړاندی کوی.

کهچیری لویه جرگه دغړو په اکثریت دتعدیل طرح ومنی نو طرح باچا ته وړاندی کیږی ـ با چا شوري ماتوی دتعدیل دطرحی نه ټول اولس خبروی اود نویو انتخاباتو تاریخ اعلانوي ـدشوری لهماتیدونهوروسته دڅلورومیاشتو په موده کښی دننه نوی انتخابات کیږی .

**یوسلودوه ویشتمهماده**ـ دشوری په پرانستلو اود حکومت جوړیدوپسی سم باچا لویه جرگه راغواړي ـ لویه جرگه دتعدیل طرح گوري اومتن یی منی او یا ئی نه منی دلوئی جرگی تصویب په دی باب دغړودوو برخوپهاکثریت کیږی اودباچا په ښکوللو نافذ کیږی.

بگذازد ودورهٔ تقنینیه اولسی جرگه یادوره خدمت اعضای مذکور مشرانو جرگه راتاختم حالت اضطرار تمدید دهد .

بعدازختم حالت اضطراربلافاصله انتخابات اجرامیگردد.

**ماده یکصدوهژدهم**ـ در حالت اضطرار قانون اساسی تعدیل نمیشود .

**ماده یکصدونزدهم**ـ درختم حالت اضطراراقداماتیکه بر اساس ماده یکصدوپانزدهم بعمل آمده بلافاصله ازاعتبارساقطمیشود.

اقداماتیکه براساس حکم ماده یکصدوچاردهم ازطرف حکومت بعمل آمدهدرمدت یکماه ازتاریخ دائرشدن نخستین جلسه شوری بعد ازختم حالت اضطرار بهشوری ارائه میشودودرصورتیکهشوری آنرارد کندازاعتبارساقطمیگردد.

هرگاه درحالت اضطرارحکومتی تشکیل شده باشد که دراثر تطبیق ماده یکصدوچاردهم رایِ اعتماداولسی جرگه راحاصل نکرده باشدموضوع رای اعتماد برحکومت بلافاصله بعدازختم حالت اضطرار دراولسی جرگه مورد مباحثه قرار گرفته راجع به آن تصمیم اتخاذ میشود.

فصل دهم

## تعدیل

**ماده یکصدوبیستم** ـ اصل پیروی ازاساسات اسلام ـ اساس پادشاهی مشروطه مطابق به احکام این قانون اساسی وارزش های مندرج ماده هشتم تعدیل نمیشود.

تعدیل دیگرمحتویات قانون اساسی به پیشنهاد مجلس وزراء یایك ثلث ازاعضای اولسی جرگه یا مشرانو جرگه مطابق به احکام این فصل صورت میگیرد.

**ماده یکصدوبیست ویکم**ـ پیشنهاد تعدیل را لویه جرگه مطالعه میکند ودرصورتیکه اکثریت اعضای آن ضرورت تعدیل را تصویب کند هیئتی ازبین اعضاء جهت تهیه طرح تعدیل تعیین مینماید این هیئت طرح تعدیل رابه مشوره مجلس وزراء وستره محکمه تهیه نموده به لویه جرگه تقدیم میکند.

هرگاه لویه جرگه باکثریت اعضاء طرح تعدیل را تصویب کند طرح به پادشاه تقدیم میشود پادشاه شوری را منحل ساخته طرح تعدیل را باطلاع عامه میرساندوتاریخ انتخابات مجدد را اعلام میکند. انتخابات مجدد درخلال چارماه ازتاریخ انحلال شوری انجام می یابد .

**ماده یکصدوبیست ودوم**ـ به تعقیب افتتاح شوري وتشکیل حکومت پادشاه لویه جرگه را دائرمیکند. لویه جرگه طرح تعدیل را مطالعه کرده متن آنراقبول یاردمینماید. تصویب لویه جرگه درین موردبهاکثریت دوثلث اعضاء اتخاذمیشودوبعداز توشیح پادشاه نافذ میگردد .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یوولسم فصل

# انتقالي حکمونه

**یوسل و درویشتمه ماده** ـ ددې فصل د محتویاتو له رعایت سره ـ ددې اساسي قانون حکمونه له هغه تاریخ نه نافذ کیږي چه د باچا له پلوه توشیح او اعلام شي.

**یوسل او څلیرویشتمه ماده** ـ د باچا له پلوه ددې اساسي قانون داعلامیدو نه وروسته د ملي شورى او د اعیانو مجلسونه ړنګیدلي ګڼل کیږي.

**یوسل و پنځه ویشتمه ماده** ـ نوې شوری د ۱۳۴۴ هجري شمسي کال د میزان په دوه ویشتمه ورځ پرانستله کیږي.

ددې اساسي قانون داعلامیدو او دنوې شورى د پرانستلو ترمنځ موده دانتقال دوره ګڼل کیږي.

دانتقال په دوره کښې دشورى واک اختیار حکومت ته سپارل کیږي.

هغه تقنیني فرمانونه چه دانتقال په دوره کښې ددې فصل په حکمونو برابر راوځي داووه اویايمې مادې دحکم سره سم شورى ته سپودل کیږي.

که چیرې دانتقالي دورې په موده کښې یو داسې حالت پیدا شي چه ددې اساسي قانون دحکمونو سره سم دلويې جرګې دائریدل غواړي نو دشورى او اعیانو ړنګ شوي مجلسونه رابلل کیږي او داته اویایمې مادې سره سم لویه جرګه جوړیږي. څرنګه چه دنوموړي حالت دراپیدا کیدو په وخت کښې لادولایاتو جرګې نه دي جوړې شوې نو ځکه لویه جرګه بې دولایاتو دجرګو له مشرانو څخه جوړیږي.

**یوسل و شپږویشتمه ماده** ـ په انتقالي دوره کښې دحکومت په وظایفو کښې دا چارې شاملې دي:

۱/ چه دانتخاباتو ـ اساسي تشکیلاتو ـ مطبوعاتو او دقضائي واک اختیار او تشکیلاتو په باب تقنیني فرمانونه جوړ او دتوشیح دپاره ئې باچا ته وړاندې کړي.

۲/ چه دسیاسي ګوندونو او ولایتي جرګو دقوانینو مسودې تیارې او هغه شورى ته ئې وړاندې کړي چه دانتقالي دورې نه وروسته جوړیږي.

۳/ چه ددې اساسي قانون د حکمونو دعملي کولو دپاره ضروري اقدامات وکړي.

**یوسل و اوه ویشتمه ماده** ـ ستره محکمه د ۱۳۴٦ هجري شمسي کول دمیزان په دوه ویشتمه نیټه جوړیږي.

که چیرې دانتقالي دورې په موده کښې ددې اساسي قانون د پنځلسمې ـ اوولسمې ـ یوویشتمې ـ دوه و یشتمې او یوسل و پنځلسمې مادې دعملي کولو ضرورت پیښ شي نو ددغو مادو حکمونه دسترې محکمې یا قاضي القضات دګډون نه پرته عملي کیږي.

ددې اساسي قانون دنافذ کیدو او دسترې محکمې د جوړیدو ترمنځ موده کښې باچا صلاحیت لري دسترې محکمې د وظیفو داجراء د تاءمین لپاره ضروري تدبیرونه برابر کړي.

**یوسل و اته ویشتمه ماده** ـ ټول هغه قوانین چه ددې اساسي قانون دنافذ کیدونه مخکې منځ ته راوتلي دي په دې شرط نافذ ګڼل کیږي چه ددې اساسي قانون له حکمونو سره تناقض ونه لري او نویو قوانینو لغو کړي نه وي.

## فصل یازدهم

# احکام انتقالی

**ماده یکصد و بیست و سوم** ـ با رعایت محتویات این فصل، احکام این قانون اساسی از تاریخ توشیح و اعلام از طرف پادشاه نافذ میگردد.

**ماده یکصد و بیست و چارم** ـ بعد از آنکه پادشاه این قانون اساسی را اعلام نماید مجلسین شورى ملی و اعیان منحل شناخته میشوند.

**ماده یکصد و بیست و پنجم** ـ شورى جدید روز بیست و دوم میزان ۱۳۴۴ هجري شمسی افتتاح میگردد.

مدت بین تاریخ اعلام این قانون اساسی و افتتاح شورى جدید دورهٔ انتقال شمرده میشود.

در دورهٔ انتقال صلاحیت شورى به حکومت تفویض میگردد.

فرامین تقنینی ایکه در خلال دوره انتقال بر وفق احکام این فصل صادر میگردد مطابق به احکام ماده هفتاد و هفتم به شورى ارائه میشود.

اگر در اثنای دوره انتقال یکی از حالاتی ظهور نماید که بر طبق احکام این قانون اساسی وجود لویه جرگه را ایجاب میکند مجلسین منحل شدهٔ شورى ملی و اعیان دعوت گردیده لویه جرگه بر طبق ماده هفتاد و هشتم دایر میشود چون در موقع ظهور یکی از حالات مذکور هنوز جرگه های ولایات بوجود نیامده لویه جرگه بدون وجود روسای جرگه های ولایات تشکیل میگردد.

**ماده یکصد و بیست و ششم** ـ در دوره انتقال از جمله وظائف حکومت است که:

۱ـ فرامین تقنینی مربوط به انتخابات تشکیلات اساسی، مطبوعات و تشکیلات و صلاحیت قضائی را ترتیب نموده به پادشاه جهت توشیح تقدیم کند.

۲ـ مسوده قوانین مربوط به احزاب سیاسی و جرگه های ولایات را تهیه نموده به شورى ایکه بعد از ختم دورهٔ انتقال دائر میگردد، تقدیم کند.

۳ـ تدابیر لازم را جهت آماده ساختن زمینه برای تطبیق احکام این قانون اساسی اتخاذ نماید.

**ماده یکصد و بیست و هفتم** ـ ستره محکمه روز بیست و دوم میزان ۱۳۴٦ هجری شمسی تشکیل میگردد.

هرگاه در اثنای دوره انتقالی به تطبیق مواد پانزدهم ـ هفدهم ـ نزدهم ـ بیست و یکم ـ بیست و دوم و یکصد و پانزدهم این قانون اساسی ضرورت بیفتد ـ احکام مواد مذکور بدون شمول ستره محکمه یا قاضی القضات تطبیق میگردد.

درمدت بین تاریخ نفاذ این قانون اساسی و تشکیل ستره محکمه پادشاه صلاحیت دارد بمنظور تأمین اجرای وظائف ستره محکمه تدابیر لازم اتخاذ نماید.

**ماده یکصد و بیست و هشتم** ـ قوانینیکه قبل از تاریخ نفاذ این قانون اساسی صادر گردیده به شرطی نافذ شمرده میشود که مناقض احکام این قانون اساسی نبوده و قوانین جدید آنرا الغاء نکرده باشد.

(دپوهنی مطبعه)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**